د ژوند نه نا أمیده په ژوندون هی لکه مړی
ناتوآنه ژوندون کړي ملګرتیا تل د ژوندو ده

# ژوندون

پروین احمد ناتوآن



DMCA.com
PROTECTED & MONITORED

**Uploading to other domains or freeware drives is prohibited**

Pukhto.Net
پښتو

# ژوندون

پروین احمد ناتوان

ټول حقونه د لیکوال په حق کښې محفوظ دی

د کتاب نوم: ژوندون
لیکوال : پروین احمد ناتوان **03449756354**
زیږون ځائے: ټال سوات
کلے: علی ګرامه سوات
د زیږون نېټه : د اپرېل ورمبۍ ۱۹۷۲ء
شمېر : ۵۰۰
د چاپ کال : ستمبر ۲۰۱۳ء
بیعه: ۱۸۰ روپۍ
کمپوزنګ: سعید احمد انجم
ټائټل / اهتمام: نقیب احمد جان
پروپ: پروین احمد ناتوان
ادبی خدمت : اتل افغان سوات
چاپ خانه: مشرف پرنټنګ ایجنسی
د موندلو درکونه : شعیب سنز منګوره ، معراج بکسېلرز کبل
علی کتابتون شاه ډېرۍ سوات

JKJan
جان کتاب کور کبل سوات
نقیب احمد جان اینډ ادر زحاجی اقبال پلازه کبل سوات فون :6961 951 345 92+
e-mail: naqibahmed@hotmail.com , naqibahmadjan@yahoo.com

# تــــــــــــــــړون

- د مور او پلار په نوم چې زۀ ئې د معذورتيا باوجود په خپلو پښو د ودروېدو جوګه کړم.

- د خپلو دؤو لوڼو او پينځه زامنو په نوم چې زما زړۀ ته ډېر نزدې دی.

- د خپل سکول ګورنمنټ هائی سکول کانجو (ستاف د ګران او محترم ملګری محمد خورشېد عرف طالعمند استاد صېب په نوم ــــــ چې ساعت په ساعت ئې زۀ ادب طرف ته پارولے يم او تر دې دمه ئې زما حوصله افزائی کړی ده.

- د هائی سکول کانجو په نوم چې زما شاعرۍ په کښې وده ومونده او د ستاف د ټولو ملګرو په نوم ــــــ چې زما شاعرۍ ته په درنه سترګه ګوری.

پروين احمد ناتوان

# د ناتوان صیب ژوند

ناتوان صیب د سوات علیګرامې کلی اوسېدونکے دے. په وړوکوالی کښې د پولیو د مرض ښکار شوے دے. په جسمانی لحاظ معذور دے خو په ذهنی او روحانی لحاظ ډېر تندرست او توانا دے. د حساس زړۀ خاوند دے. شاعری ئې د درېدلی او ځورېدلی زړۀ په کېفیاتو ګواه ده.

ناتوان صیب د علم او پوهې په لحاظ توانا دے. شپاړسم ئې په پښتو کښې کړے دے او د تدریس په فن کښې د سی.ټی پورې رسېدلے دے. نن سبا په یو سرکاری هائی سکول کښې د تدریس د پېغمبری پېشې سره وابسته دے. جمالیاتی لېونی ذوق ناتوان صیب د شعر د فن سره اشنا کړے دے. شاعری ئې د ذهنیت پوره پوره عکاسی کوی. د دوئ شاعری نه په واضح ډول معلومېږی چې ناتوان صیب یو داسې مذهبی شخصیت دے. د چا چې د ژوند هلې ځلې سوچونه فکرونه او تصورات د الله تعالی د رضا په خاطر د پوهې خورولو او احساسات بېدارولو نه چاپېره چورلی. د ناتوان صیب کوشش دا دے چې انسان د دې قابل کړی چې هغه یو ښکلے ژوند خپل کړی او نورو ته د ښکلی ژوند موقع په لاس ورکړی. انسان دې

هر څه کوی خو هغه څۀ کوم چې د مذهب او قانون د کرښو نه بهر نه وی.

ناتوان صېب د مينې غزل ليکی خو مينه محدوده کوی نه. د هغوئ د مينې ابتدا د الله تعالی سره د مينې نه کيږی. لکه چې وائی:

پـه ګلســتان کښــې دې څرګنـد دے وجـود
هــره غــوټۍ هــره غنچــه کښــې تــۀ ئــې
جهــان روښــانه دې پــه نمــر ښــکاريږی
د نمــر پــه هــره پلوشــه کښــې تــۀ ئــې

ناتوان صېب د حب الهی او حب رسول سره سره د خپل وطن خپلې خاورې سره هم بې کچه مينه لری او دا هم يو فطری خبره ده لکه چې وائی:

د سوات د غرونو قدرتی ښکلا کښې
د دنګـو غرونـو پـه ابشـار مئـين يـم
يــواځې نــه لــرم ســپرلی خيالونــه
نـاتوان د ژونـد پـه هـر بهـار مئـين يـم

ناتوان صېب يو مئين زړۀ لری او د الله تعالی د هر تخليق سرۀ مينه لری لکه چې وائی:

حسن د جانان مې د خالق د فن شاهکار دے
ځکه مې زړګے پرې لۀ فطرته مئين ښکاری

ناتوان صېب ترقی پسند ذهن لری او هر هغه عمل مسترد کوی کوم چې د وطن او د ملت د ترقۍ په لاره کښې خنډ کيږی. دغه عمل کۀ د خپل وی کۀ د غېر وی. د مالدار کۀ د غريب وی. د هر چا چې وی لکه چې وائی:

چې د ذات په ائينو کښې غټهان بند وی
دلته څوک به کوی وروښو د نهر سوچ

چې انسان وی د انسان ښکړه غواړی
بد خصلته کوی تل د بل د شر سوچ

زۀ د ناتوان صېب شاعری خوښووم البته فی الحال ورله يو خاص معيار نه ټاکم چې دا خبره د يو فرد کار نه دے بلکه د اولس دے. اولس به د دوئ کتاب ګوری او اخر فېصله به ئې په يو خاص معيار اوکړی او دغه معيار به يو مسلم معيار وی.

په ډېره مينه
عبدالرحيم روغانے
ګل کده نمبر ۳ سوات

# ژوندے اوسې

څوک وائی چې د خوشحال مشال بلیږی نۀ؟ څوک وائی چې د رحمان کاروان چلیږی نۀ څوک وائی چې د حمزه اوازه غږیږی نه او څوک وائی چې د غنی غمې پرقیږی نه راشئ وګورئ دا څه دی ـ دا څوک دے ـ دا ناتوان صېب څه شے کوی ـ اے دے د هغه ټپال غږے نه دے چې جرس ئې امیر کروړ کړنګاؤ ـ د هغه لښکر سر تېرے نه دے

چې ببرغ ئې پېر روښان رپاؤ ـ ولې نه دے خامخا دے وګورئ په ګوتو کښې ئې هغه قلم دے چې پښتو لیکی ـ ستا پښتو، زما پښتو، زمونږ د خوږې مورجانې خوږه پښتو، تشه سپینه نه، تکه سپینه او سپېځلی پښتو ـ

د ناتوان لويي په دې کښې ده چې نېکزړے هم دے او سپینزړے هم دے ـ د ادم هر بچے خپل ورور ګڼی او بیا افغان د سترګو تور ګڼی ـ له هرې نېکچارۍ مینه کوی او له هرې لوئے چارۍ کرکه کوی ـ د مینې ، مرستې او امن هر کلے کوی او د کرکې، تربګنۍ او اړی ګړی مخ نیوے کوی ـ کلک باوری دے چې اسلام رښتونے دے، هره وینا او هر پېغام ئې رښتونے دے. قران هغه پوړۍ ده چې سړے د سرېتوب تر بامه رسوی ـ خوږ پېغمبر هغه لاربښود دے چې وګړی د جنت تر ور ورولی ـ دغه کلک مزے کلک نیول پکار دی ـ په دغه روښانه لاره تلل پکار دی ـ

ناتوان صېب پښتونولی هم په درنو کاڼو تلل غواړی ـ د پښتون اولس کړۀ وړۀ، دود دستور او تاریخ په ښو ټکو ستائل غواړی ـ پالل ئې غواړی او سمبالول ئې غواړی ـ غواړی چې پښتون دې تل وړ وی پړ دې نه شی ـ تل دې بر وی لر دې نه شی ـ ناتوان د پښتون په بده ورځ ځوریږی ـ په دې پوهیږی چې که پښتون د زړۀ سترګې او د سر یریځې خلاصې کړی نو پوهه به شی چې خپلې ناپوهۍ او بې علمۍ ئې ګرېوان ځیرې کړو ـ خپلې ځان ځانۍ تالا ترغه کړل ـ د پردو لاسو هنې په سر مخ وټکول ـ پوهه به شی چې په غولوونکو نارو غولیږی ـ په پردی ټوپک نازیږی خپله پوزه ئې په

خپله چړه غوځیږي. اوس سیالي او خوشحالي چرته ده، شمله کوم ځائے ده. نېکنامي چرته ده. هر څه په اباسین لاهو دي. ناتوان هیله من دے چې که پښتون پښتون شو نو سیال به شي که ځان ئې وپېژندنو خان به شي.

ناتوان صېب شاعر دے او د شاعر زړۀ د ښکلا کور وي. شاعر د ښکلا راټولونکے وي او د ښکلا خورونکے وي. د فطرت له هرې برخې د زړۀ د خوښې توکي راټولوي. له دغو بېلا بېلو توکو د خپل او د بل د زړونو په تختو د ښائسته ښاپېري انځورونه رغوي. د سپرلي په ګلونو ګرځي او رنګونه ټولوي. د یار په رخسار پراته داغونه پټوي او د پاسه پرې خالونه جوړوي. د زړۀ په چاپېرچل کښې کشمالي زرغونوي. تا خوشحالوي، ما خوشحالوي او په ژوند مو ډاډوي.

د ناتوان قلمه: ګړندے اوسې، سترے مه شې، ګورې ځان پوره ونه شمېرې، چرته غره نه شې، خپل پخواني او اوسنی هملارې هېر نه کړې. هر یو ځانګړے چال او چل لري. لارې ئې ویستې دي، لارې ئې وپېژنه او لاره دې وباسه، ناتوانه مۀ شې ـــــــــ یا الله قبوله کړې دعا زما.

بدرالحکیم حکیم زے
نېټه: ۱۵اګست ۲۰۱۳ع

# هسې وائی چې ناتوان یم ناتوان نه د ے

شاعری د الله تعالی عطیه ده چې چاله غواړی هغه له دا ملکه ورکړی. څنګه چې د الله تعالی په نورو مخلوقاتو کښې غټ کچ، کمزورے زرور، بد شکله او ښائسته په هر یو جنس کښې موجود وی هم دغه د شاعرۍ د کمال او د ملکې حال د ے. ځنې داسې شاعران وی چې ډېر تعلیم لری ، ډېره پوهه لری او د دغه تعلیم او پوهې په موجودګۍ کښې شاعری کوی ولې بیا هم هاغه شاعرانه روح د هغوئ په شاعرۍ کښې په نظر نه راځی دا ځکه چې خالق خو پوهه ورکړی وی خو د شاعرۍ ملکه ئې اعلی نه وی په دغه سوب ئې د شاعرۍ دا اړخ د کمۍ او کمزورۍ ښکار وی. بل اړخ ته بې تعلیمه شاعران وی چې پوهه او علم خو ئې محدود وی خو د شاعرۍ دا طاقت ورله خالق په مزغو کښې داسې ایښے وی چې الفاظ لړۍ لړۍ راځی او پخپله ترینه امېلونه او هارونه سازېږی. دا منم چې به پکښې لوئے علمی بحثونه نه وی ، غټې غټې مسئلې به پکښې بیان شوی نه وی خو د شعر کومه بې ساختګی او کوم خوند چې په دې شاعرۍ کښې پروت وی د هغې لوئے مثال زمونږ سره د پښتو اولسی شاعری ده. په اولسی شاعرۍ کښې د ټولو نه لویه خبره روانی ده ـ دا روانی د اګاهۍ او پوهې په نتیجه کښې نه بلکې د

شاعرانه مزاج درلودلو په نتیجه کښې په وجود کښې راځی او د قدرتی او مصنوعی فرق دلته ظاهرېږی. بیا هغه شاعران چې شاعری ئې دغه اولسی رنګ هم لری او د دې سره سره علم او پوهه هم لری هغوئ ځان له یو جدا او ځانګړے مقام تر لاسه کؤلے شی.

د ښاغلی پروین احمد ناتوان صېب پرګوئی او زود نویسی ځو ځو ځله حېران کړے یم . ډېر په لږ وخت کښې ډېر لیکل کؤل د دوئ د شاعرانه مزاج عکاسی کوی. د ناتوان صېب والد محترم هم شاعری کؤله یعنې دا ملکه دوئ ته په وراثت کښې راغلی ده. د دې سره سره ناتوان صېب یو لوستے انسان هم دے. طمع لرم که هم دغسې ناتوان صېب د شاعرۍ مشق جاری وساتی نو قام له ډېر څه ورکؤلے شی. د دې سره سره که هغوئ د شاعرۍ په محاسنو او معائبو هم نظر ولری نو کلام به ئې نور هم خوندور او ګټه ور شی. هر څو که د پروین احمد صېب تخلص ناتوان دے خو د شعر په مېدان کښې او د خیال په وسعتونو کښې ناتوان نه بلکې ښه توانګر دے. د شاعرۍ ملکه په خلاص مټ لوئے الله ورکړی ده اوس د دې روزنه او پالنه د ناتوان صېب کار دے. الله دې وکړی چې د ناتوان صېب دا توان ورځ په ورځ سېوا کیږی او د هغوئ د کلام دا حصه (کومه چې د ژوندون په نامه ستاسو په لاسو کښې ده) دې الله تعالی د پښتون قام د بریالتوب سبب وګرځوی. امین ـــــــــــــ په مینه

نېټه: ۲۰ ستمبر ۲۰۱۳ع نقیب احمد جان

موږ هر انسان ته د خپل ځان قدر ښودلے مدام
ناتوانه موږه د نفرت نۀ لاس پۀ سر خلق یو

لکه څنګه چې د پاسنی شعرنه څرګنده ده پروین احمد ناتوان صېب د نفرت نه نفرت کوونکے او د مینې سره مینه کونکے یو ډېر حلیم ، شفیق مینه ناک او خوږ انسان دے که جسمانی طور هر څه وی خو د

لوړې ارادې او مضبوطو اعصابو خاوند دے او هم داسې د هغه شعر د هغه د پاک کردار او ښو اخلاقو ائينه دار دے. پروين احمد ناتوان که يو طرف ته په سوات يونيورسټۍ کښې د پښتو په ايم اے کښې دويم پوزيشن حاصل کړے دے نو بل طرف ته يو بهترين استاد هم دے. او هم دغه هر څه د دۀ په ذهانت او قابليت دلالت کوي.

ناتوان صيب کۀ هر څو د شعر په مېدان کښې نوے دے خو ګامونه کوټلي اخلي. خو بيا هم يو مقام ته رسېدل به وخت هم اخلي او خواري به هم غواړي. پښتانۀ هسې هم ټول په ټوله شاعرانه مزاج لري خو بيا چې کوم شاعر په باقاعده توګه د شعر د زده کړې کوشش کړے دے ځان ئې د شعر په رموزو او فني نزاکتونو پوهه کړے دے نو هغه اورمرو يو مقام ته رسېدلے دے. خو د دې له پاره د خپلو مشرانو شاعرانو او نقادانو کتابونه لوستل غواړي او استفادۀ ترې کول غواړي او کۀ ممکنه وي او ناسته پاسته ورسره اوشي نو ډېر څه ترې حاصلولے شي. زما يقين دے چې دے به هم د دې مشرانو نه بالواسطه يا بلا واسطه استفاده اوکړي او په راتلونکي وخت کښې به ځان له يو ځانګړے مقام حاصل کړي. الله دې اوکړي چې هم داسې اوشي. امين

په ډېر درناوي
محمد حنيف قېس
۱۷ ستمبر ۲۰۱۲

# د ناتوان صیب توانا شاعری

پروین احمد ناتوان صیب د نوم د حده پورې اسم بامسمی دے ښخی که د شخصیت په یو اړخ کښې ئې د پروین د نرګسیت او نفاست رنګینی ده نو بل اړخ ئې د احمد د صداقت او الوهیت پلوشې خپروی ناتوان تخلص که ئې د خالق او مخلوق په مابین د طاقت د تفاوت په اړه اینبے وی نو ټیک دۀ خو که د ښاغلی مراد د خپل ظاهری وجود د نقص ترجمانی وی نو زۀ ورسره اتفاق نه کووم ځکه چې منزلونه کچ کېدو له چې کوم فکری الوت او حوصله پکار دۀ هغه د ښاغلی دومره توانا ده چې د ناتوانۍ دا احساس ئې غلے کړے دے. بلـه دا چې ښاغلے په خپله سینه کښې د مینې د طاقت هاغه اباسین لری چې غورځنګونه ئې په کاڼو کښې لارې وباسی. ښاغلے ناتوان صیب چې نشست ئې په موسکا او برخاست ئې په دعا وی په ورمبی نظر کښې چرته د پختونخوا د غریزی سیمې شډل بډل بانډه چے ښکاری خو چې کله شونډې وسپړی نو د حېرانېدو تر حده فلسفیانه خبرې ئې د اورېدونکو پام ځان پله وګرځوی. سکنه جُوسه ئې د مینې په اور د جلیا کېدو ښکاره نخښه دۀ چې دې خیال ته نوره وده ورکوی چې:

هلک چې تور شی لونګین شی
جینۍ چې تورۀ شی بنګړی دې خرخوینه

خو د ښاغلي د پوره کلام د لوستو نه پته لګي چې د هغه زړۀ د مجازی عشق لمبو نه بلکې د حقیقي میني تاوونو او د خپل قام دردونو ستې کړے دے. خو ستي زړۀ ئې په یو سنګر هم نه حوصله بائیللې او نه د مایوسو سره مخ شوے دے ولې چې دا د شاعرزړۀ دے. پوهانو وئیلي چې زړۀ په اصل کښې د بې دریغه خیالونو او لا محدوده جذباتو نړۍ دۀ چې د صبر جرنده پرې لګیدلې وی خو کله کله چرته په یو درز ترې یو نیم سرکشه خیال او یا یوه نیمه بې واکه جذبه ظهور ته راشي که د فلسفي د زړۀ وی نو د وخت د زلفو په ولونو کښې د فکری نتیجې په لټون شي، که د مفکر د زړۀ وی نو د ناویاته جهانونو په بادولو سر شي او که د شاعر د زړۀ وی نو د وخت د زلفو په ولونو کښې ورک فلسفي او د ناویاته جهانونو ارماني مفکر ته د امید سندره شي غرض دا چې شاعری هاغه سیمابي وصف دے چې په ښکته کېدو پورته کېدو کښې د یو قام د اجتماعي سوکالۍ او پرکالۍ انګازۀ وی. ناتوان صېب د هاغه ښه نصیبو د قافلې نوے مل دے چې خالق کائنات ورته دا وصف وربخښلے دے. د نن ناقدان که ئې هر څو د شعر په صحت او سطحیت نیوکه کوی خو دا هیڅ کله نه شي وئیلے چې ښاغلے فکری تنوع او فني صناعي نه لری د ادب د پوهانو د وینا تر مخه د نااشنا ترکیبونو په راوړو او بې ځایه استعارو او کنایو یو شاعر خپل معقولیت اوځلوی خو شاعری تته کړی بائد چې ښاغلے ناتوان صېب د دې احساس تر مخه خپلې شاعرۍ له داسې عوامي او ساده انداز ورکړے دے چې د کلاسیکي شاعرۍ خوند ئې بیا تازۀ کړے دے.

د خپل چاپېرچل د ساندو او سندرو واړه کیفیتونه ئې د خپل حساس قلم په ژبه د یو زیرک نقاش په شان د تصور نه تصویر کړی دی او په بعضې ځایونو کښې ئې د وخت د ستمګرو اذری په دې غرض کړې دۀ چې بائید ځوک ابراهیم راپاځي اوکوپړۍ ئې داسې اونولی چې د امن او سوکالۍ راتلو ته لاره هواره شي، وطن ګلونه اوټوکوی، سیندونه ئې سندرې او ابشارونه ئې سازونه پورته کړی، مارغان ئې د فطرت د ښکلا په نغمو او اولسوال ئې د محبت په زمزمو کښې ډوب شي ښاغلے په دے وجه هم په شا د ټپولو لائق دے چې د نیشت نیمګړتیاوې باوجود ئې تر خپله وسه د اولس د فکری رهنمائۍ او سپیځلې رهبرۍ د پاره خپلې تلوسې د وزن او بحرپه چوکاټ کښې د بندولو زیار کړے دے. د کتاب د ضخامت د زیاتېدو د وېرې مې د ښاغلی د کلام د نمونو راوړو نه قصدا ډډه کړی ده دا اوس په لوستونکو ده چې د ښاغلی د کلام په باب له زما سره څومره هم خیال دی په اخر کښې به دومره اولیکم چې پښتانه به د ناتوان صېب د کلام دا وړمبۍ مجموعه دې د میوه دار بوټی وړمبے بار وګڼی چې که خېر وی سپرلی په سپرلی به پوره بار ته ورسی ـــ ان شاالله.

د ټولو مینه والو د نېک مرغۍ په هیله
مفتاح الدین خاکسار
سترسکتر کبل پښتو ادبی تړون کبل
نېټه د جون پنځمه کال ۲۰۱۳

# محترم ناتوان صیب په ما ګران

زۀ ځان دومره جوګه نه ګڼم چې خپل استاد محترم جناب پروین احمد ناتوان صېب او د دوئ په شاعرۍ بحث اوکړم خو دخپل طرف نه به د دوئ او د دوئ په روحاني، اصلاحي او د مینې نه پۀ ډکه شاعرۍ یو څو خبرې اوکړم.

د ګران ناتوان صېب په شاعرۍ کښې چې څه شے زما ډېر زیات خوښ دے هغه د فکر او خیال ازادي ده. دا د دوئ د شاعرۍ کمال دے چې که لوستونکي ورته د مینې په نظر اوګوري نو ټوله شاعري به ورته مینه مینه ښکاره شي او که لوستونکي ورته د پښتون وګړي د اصلاح او عکاسۍ په نظر اوګوري نو د دې قام د پاره پکښې ډېرې په زړۀ پورې او دکمال ډکې خبرې موجودې دي. د اولس د ماضي ، حال او مستقبل متعلق په شاعرۍ کښې داسې بې مثاله شعرونه موندلے شي چې اوربدونکے ورته ګوته په خله ودرېږي.



Pukhto.Net

پروین احمد ناتوان صېب چې څنګه په عام ژوند کښې ساده خوش مزاجه او د مینې ډک انسان دے. شاعری ئې داسې معلومېږی چې د دوئ د ژوند عکاسی کوی. کۀ مونږ داسې اووایو چې د ناتوان صېب شاعری په انسان کښې د ژوند سره مینه او جذبه پېدا کوی نو دا به غلطه نۀ وی. پروین احمد ناتوان صېب د خپلې شاعرۍ په سبب د ادب د ډېرو نوو ګلونو په زړونو کښې لکه زما غوندې یوه سحر انګېزه جذبه پېدا کوی. داسې ئې ما غوندې نا پوهه له هم په دې مېدان کښې د شعر او ادب جنډه په لاس کښې راکړی ده. زۀ چې څه نۀ څه غزل، نظم یا نثر لیکم دا هم د دوئ سره د نزدېکت او قرب ثمره ده.

مونږ دعا او امېد لرو چې د دوئ لاس به زمونږ په سر مدام وی. او پښتون قام له چې دوئ کوم خدمات اوکړل دا به تل یاد لرلے شی. زۀ د پروین احمد ناتوان صېب شکریه ادا کؤم چې دوئ په دې مېدان کښې زما څومره اصلاح کړی ده نو په دې باره کښې به زۀ لوستونکو ته یو شعر ډالۍ کړم.

که هر څو د ژوند په سترِی مېرو ګرځم
خو چې ستاسو در له راشم نو دمه شم

په ډېره مینه
نادر خان نادر
سوات (نمائنده ځلنده رساله پېښور)

# د ناتوان صېب شخصيت

د نـاتوان صـېب شخصـيت د تعريـف محتـاج نـهٔ د ے. د دوئ ژونـد د همت او حوصلې يو پرانيستے باب د ے که ژوند هر څومره د هلو ځلو سمندر شی خو ناتوان صېب د دې سمندر په ويخ کښې د يوې داسې سيپی حېثيت لری چې په ډېری حوصلې او همت سره ځان يو قيمتی لعل غوندی څرګندوی. که دوئ معمولی معذورتيا هم لری خو د دې باوجود د وجود دا معذورتيا د احساس په ډېرۀ ښعه هم پـه نـا امېدی نهٔ خرڅوی. ځکه چې د دوئ قلم معذور نه د ے. ناتوان صېب د قوم د بچو د مستقبل يو ډېر ښه معمار او محافظ هم د ے چې پـه ګورنمنټ هـائی سکول کـانجو کښې استاد د ے. پـه دغـه اداره کښې دوئ پـه خپله هم استاد پاتې شوی دی. او د دې سره سره په ادبی مېدان کښې د پښتو ادبی غونډو سره ئې زما مخامختيا کړې دهٔ.

ناتوان صېب يو ښه انسان د ے چې په کلی سکول او معاشره کښې ورتـه پـه خپـل خپـل ځـائې ډېر ښـه مقـام حاصـل د ے. پـه پښـتو شـــاعری او ادب کښـــې ورتـــه لـــوړ مقـــام حاصـــل د ے.

په ډېره مينه او درناوی سره
سيد عمران خان بی ايس ادبيات کلے علی ګرامه

# مننې او يادونې

زۀ دا خپله وړمبۍ مجموعه د ګرانو لوستونکو په خدمت کښې وړاندې کؤم زۀ دومره پوهه ليکوال نه يم خو بيا هم يو شاعر، اديب، فنکار او يو ليکوال کۀ هر څومره ښه تخليق هم وکړي خو بيا هم د خپل کار نه مطمئن نۀ وي نو په دې وجه به دا فيصله ګران لوستونکي کوي چې دوئ دا ليک څومره خوښوي؟ او زما دې تصنيف ته په کوم نظر ګوري؟

د اتل افغان بې حده شکريه ادا کوم چې زما د کتاب د چاپولو په لړ کښې ئې ډېرې ذمه دارۍ په سر اخستې وې۔ په تېره بيا د ليکوالو بدر الحکيم حکيم زی ، روغانی صېب ، حنيف قېس ، نقيب احمد جان ، مفتاح الدين خاکسار ، نادر خان نادر او سېد عمران خان ډېره زياته مننه کوم۔ددې نه علاوه د خپل سکول د پرنسپل ميا سېد واحد صېب او نورو استاذانو ملګرو کريم شاه ، سېراج خان او شاه حسېن سره سره د سکول ټول ستاف او ماشومانو لپاره درناوے چې زما شاعري خوښوي۔

په ډېره مينه او خلوص
پروين احمد ناتوان

# حمد

د کائنات هره زرۀ کښې تۀ ئې
چې کوم خواګورم پۀ هر څه کښې تۀ ئې

ئې پۀ اسمان نمر او سپوږمۍ ستورو کښې
زمکه دریاب ورشو او غرۀ کښې تۀ ئې

پۀ ګلستان کښې دې څرګند دے وجود
هرۀ غوټۍ هره غنچه کښې ته ئې

ستا د جمال پۀ کښې کوم تماشه
چې د سپرلی هره وږمۀ کښې ته ئې

جهان روښانه دې پۀ نمر ښکاریږي
د نمر پۀ هره پلوشه کښې ته ئې

پۀ دې ګواه به وي ناتوان هر ځائے کښې
زما بدن او زما زړۀ کښې تۀ ئې

# حمد

پـه صـحرا پـۀ چمـن سـتا دی ښـکلاګانې
د ګلونـــو پـــۀ غنچـــو دی خنـــداګانې

ربه ورځ کښې دې جهان پۀ نمر روښان دے
تـورو شـپو کښـې د سـپوږمی دی رڼاګـانې

هر يو څيز دې د تخليق ربـه شاهکار دے
کـۀ او بـه دی او کـۀ اور کـۀ هواګـانې

سـتا دريـاب دے سـمندر کـۀ ځنګلونـه
پـه هـر لـور دی سـتا د حسـن ځلاګـانې

د همـه مخلـوق مالـک ئـې هـم رازق ئـې
کامـل ذات ئـې تـه د شـاړې او ودانـې

زۀ نـاتوان دا سـتا د رحـم طلبګـار يـم
کـړې قبـول مـې منتونـه دعاګـانې

## نعت شریف

ګله پهٔ تا دهٔ په دارېن کښې دعظمت انتها
پهٔ کائنات کښې دې خوره دهٔ د رحمت انتها

چرته سوالګرے دې تش لاس هم رخصت کړے نهٔ دے
داسې خو تش لاس کښې وهٔ ستا د سخاوت انتها

دا ستا پهٔ غږ چې دښمنان سره شول وروړنه ورونه
دا دې ښکاره دهٔ په جهان د محبت انتها

شق د قمر دې د ښمنانو له مثال ژوندے دے
شوه دې ښکارهٔ په هغه وخت د کرامت انتها

ناتوانه سر به په سجدهٔ ږدی خپل امت د پاره
دا به ئې مونږ د پاره وی د شفاعت انتها



Pukhto.Net

د پښتو نخوا بچې بچې خپله ثاني نهٔ لري
صلاحيت لري خو هره اساني نهٔ لري

هغه قامونه خپل وطن او اولس پورته بوځي
چې وفادار وي او هغوئ بې ايماني نهٔ لري
قام مې څهرې راولي نوي انقلاب له هر ځل
خو هلته بندې چې ئې خولې شي معاني نهٔ لري
چې مينه نهٔ پېژني بوتې د نفرت نالوي
څنګه انسان شي چې جذبات څوک انساني نهٔ لري
زما اولس هغه قامونو ته به خود پسخيږي
چې وي سوکاله او وطن خپل کښې ګراني نهٔ لري
زما اشنا سره دې هسې څوک سيالي نهٔ کوي
ځکه هغه هيڅ قسمه نقص جسماني نهٔ لري
ملګرو هر انسان درانه ګوري تل هغه قام ته
چې د يو بل نه قربانيږي ځان ځاني نهٔ لري
خدمت د يو بل له مدام ځواني جذبې پکار وي
خبر دے کهٔ زوړ وي او پهٔ تن وجود ځواني نهٔ لري

ناتوان د زړهٔ په خاني ځان ګڼي د ټول کلي خان
څه که صورت باندې عاجز دے او خاني نهٔ لري

د خپلـه حسـنه اے ګـل خندانـه څـه خبـر ئـې
پـه تـا پسـې څـه حـال مـې د ے زمـا نـه څـه خبـر ئـې

سـتا جـدائی چـې کـوم لـړزان پـهٔ مـا راوسـتے اشـنا
پـه خولـه مسـکے خـو مـې د زړهٔ طوفانـه څـه خبـر ئـې

د زړهٔ پرهـر چـې مـې سـتا یـادو سـره بیـا خولـې اوکـړې
زړګیـه تـهٔ مـې د لمبـه ارمانـه څـه خبـر ئـې

د احمـد شـاه او خوشـحال خـان بچیـه دا څـه کیـږی؟
خپـل دی لـږ اوګـوره تـاریخ افغانـه څـه خبـر ئـې؟

بـې لـه وحـدت نـه زمـونږ بیـا هـم بلـه لاره نشـته
تـس نـس اولسـه تـه د خپلـه شـانه څـه خبـر ئـې

سـل ځلـه مـهٔ وژنـه ځـان یـو ځـل دې ښتـه دهٔ د مـرګ
ځـان پـه ژونـدونې وژنـه مـه ناتوانـه څـه خبـر ئـې

Pukhto.Net

# ژبه

شی ګټلی کل جهان پۀ خوږۀ ژبه
بیا مونده شی اوچت شان پۀ خوږه ژبه

کۀ هر څومره نازک وخت وی نازولو
بچ به اوسو له نقصان په خوږه ژبه

هم کردار د هر انسان پرې ښه ښکارېږی
هم انسان وی په امان په خوږه ژبه

په خوږه ژبه همه دنیا خپلېږی
یو تر بله شی ګزران په خوږه ژبه

نۀ رغیږی څوک د ژبې له ازاره
ګوره خوږ له یو درمان په خوږه ژبه

چې د وخت د خفګان زور پرې وریسې شی
زر پُخلا شی بیا ناتوان په خوږه ژبه

مینـه خـو فطـرت د ے مینـه کـار د پریښـودو نـهٔ د ے
زهٔ هســـې بلبـــل یمـــه چغـــار د پریښـــودو نـــهٔ د ے

هـــره سـیمه ګـــل چـــې وی ګلونـــه غیـــرې غیـــرې وی
زهٔ هســـې بـــورا یمـــه بهـــار د پرېښـــودو نـــهٔ د ے

ګـــل مـــې مســـافر د ے ورتـــه زهٔ ســـترګې پـــهٔ لار یمـــه
ګـران کـه انتظـار د ے خـو دیـدار د پرېښـودو نـهٔ د ے

مـخ مـې زیـړ نـرګس پـه ځیګـر خـون لکـه لالـه یمـه
زهٔ پســـې رنځـــور یمـــه خـــو یـــار د پرېښـــودو نـــهٔ د ے

زهٔ چـــې د جنـــت پـــه مثـــل ســـوات ګـــل و ګلـــزار لـــرم
وایمـــه نـــاتوان ګـــل و ګلـــزار د پرېښـــودو نـــهٔ د ے



Pukhto.Net پښتو

په سور سپرلی کښې بويؤم ګلونه
په مينه پايم خوښؤم ګلونه

کۀ هره خوا راته مېره مېره شی
کؤمه کر زرغونووم ګلونه

کوې حساب څوک په سپرلی د ګلو
څومره ساده يم شمارووم ګلونه

پۀ ګلستان کښې لېونې لېونې
په مخه ځم او ټولووم ګلونه

ناتوان د نوم دې وظيفه کؤمه
بس يادؤم او يادؤم ګلونه

Pukhto.Net

ښکارګاه کښې د ژوندون هر تن لري د ژوندون حق
پکار نۀ دي تروږل هم د میږي د ژوندون حق

ورکړے هر ذي روح لره خالق حق د ژوندون
بیا ولې څوک عبث د چا تروړي د ژوندون حق
پۀ وجه د انسان دا رنګیني دۀ د جهان
دنیا کښې وروښو شته د هر سړي د ژوندون حق
د چا د عشق لۀ فیضه چې ژوندون کښې یم ژوندے
زۀ غواړمه امان کښې د زړګي د ژوندون حق
ښه نۀ ښکاري زما نظر کښې هغه تن رښتیا
چې دلته څوک هم اخلي د ښاروي د ژوندون حق
مذهب کښې مو شته حق د هندو هم او فرنګ هم
اسلام کښې وروښو شته دیهودي د ژوندون حق
زلمي او هره پېغله پۀ تعلیم ښکاري زېبا
ګڼمه زۀ تعلیم د هر بچي د ژوندون حق

ناتوانه دلته ښکاري راته هغه لېونے
چې نۀ ګڼي څوک هم د لېوني د ژوندون حق

Pukhto.Net

## په سوات یونیورسټۍ کښې د تعریفي سند د وصولۍ په وخت في البدیهه نظم

### سوات یونیورسټي

خالقـه پورتـه بـوځې نـوره سـوات یونیورسـټي
د سـوات اولـس د پـاره دهٔ سـوغات یونیورسـټي

د دې یونیورسـټۍ بـاني ابـاد غوا ړمـه تـل
چـې مـونږ لـه راکـوی اوس مراعـات یونیورسـټي

چـې مـونږ ئـې پـه رڼـا کړلـو روښـانه د تعلـیم
نـن دلتـه راکـوی چـې سـندات یونیورسـټي

کوم تـن چې هم دې نېک کـار کښـې اغستی ده حصه
هـر تـن لـه دې کـړی لـوړ رب درجـات یونیورسـټي

پـهٔ علـم دې خـړوب شـی قـام د سـوات یونیورسـټۍ
نـاتوان لـه چـې راپـار کـړو نـن خیـالات یونیورسـټي



Pukhto.Net

چې راشي تصور کښې مې جانان زمونږ د کلي
رایاد هسې منظر شي ګلستان زمونږ د کلي

اوس هغه شان یاران هغه دوران او خلوص نشته
مزار مې جوړوي زړۀ کښې دوران زمونږ د کلي
کولې چې به پېغلو مر مرینې خنداګانې
ساده وو هغه وخت کښې هر یو ځوان زمونږ د کلي
هر کشر به د مشر خپل کړو قدر بې شانه
څه داسې هر انسان وو قدردان زمونږ د کلي
څه خوند د اخترونو وو څه مینه محبت وو
کړومه هغه وخت پسې ارمان زمونږ د کلي
ګرمۍ کښې چې به سورې ته راغونډ همه یاران شو
اوس هم هغه موجود دي چناران زمونږ د کلي
د کلي د سپرلو او رنګینو مزې څنګ هېر کړم
هر ګل وو د سپرلي ګل خندان زمونږ د کلي

وئیل ئې چې همزولو یو غزل ترې نوے اورو
دا ښه دۀ چې لیکوال مو دے ناتوان زمونږ د کلي



Pukhto.Net

د دې چمــن ســپرلې او هــم ګلونــه سمســور غــواړم
د هـر يـو ورور ئـې زړۀ کښې ارمانونـه سمسـور غـواړم

راځـئ ورونـو چې مينـه روری وشيندو جهـان کښـې
پــه دې د خپــل اولــس زۀ ايمانونــه سمســور غــواړم

ملګـرو چـې پکـار شـو د يـو بـل پـه دې جهـان کښـې
د دې د پـاره خپلـو کښـې فکرونـه سمسـور غـواړم

يــو ځلــې خوبيــا هغســې زړګيــه پښنــه وکــړه
را اوګــوره ســتا هغــه نظرونــه سمســور غــواړم

د يو بل په خدمت کښې که مونږ ورک شو نو ورک نۀ يو
ديـو بـل پـه تکليـف کښـې خدمتونـه سمسـور غـواړم

چـــې اونيســـو لمـــن د امـــن لـــرې د نفاقـــه
د هـر يـو افغـان ورورنـه دا لوظونـه سمسـور غـواړم

خالقــه زۀ نــاتوان لاس پــه دعــا يــم ځکــه تــا تــه
هـر خـوا تـه پـۀ دې خـاوره بهارونـه سمسـور غـواړم


Pukhto.Net

نن ګنګوسے دے چې سحر اختر دے
خو مې په قام د شور و شر اختر دے

دلته مسکا د چا په شونډو نشته
لۀ خاموشۍ ډک په خبر اختر دے

دلته غمونو اوسي نازونو کښې تل
د دوی محلو کښې اختر اختر دے

ورته به خپل کور ابۍ بابا یادیږی
په داسې حال د مسافر اختر دے

خدایه مسرور کړې د اولس هر یو تن
پۀ خیال کښې داسې مې منظر اختر دے

ناتوان هغه ګنړم اختر ملګرو
چې شي غریب په خندا سر اختر دے

# تعلیم

څوک کۀ دنیا کښې ترقي غواړي
شوق د تعلیم به قدرتي غواړي

تعلیم له غاړۀ دې هر تن ورکړي
څوک کۀ دنیا کښې خوشحالي غواړي

نا ممکن نشته دے یو کار هم خو
دنیا کښې هر یو کار خواري غواړي

ملک پر مختګ بس په تعلیم کوي
خو وطن هم بیا خپلواکي غواړي

ممکنه نۀ دۀ له تعلیم بغیر
کۀ کل جهان کښې څوک سیالي غواړي

پۀ خاموشۍ او سادګۍ خوښ یم
همه دنیا کۀ فنکاري غواړي

ناتوانه شي به ترجمان د قام
خو درنه وخت به شاعري غواړي

Pukhto.Net
پښتو

# د سوات خلق

د سوات خلق شریفان او مهذب دی
پښتو نخوا کښې ډېر اوچت پهٔ دې سبب دی

زېړولی اتلان دی د سوات خاورې
ځلند ستوری هم پهٔ سیمه د ادب دی

د تاریخ د نازک دور نه تېرېږی
پهٔ ښکلا مئین د مینې په مذهب دی

دلته ښکلی او سپیځلی خلق اوسی
د دې قام بچی د علم پهٔ طلب دی

ښکلی سیال د ښاپېرو د کوه قاف دی
نازولی سم د حسن په مکتب دی

لوئے مسکن دے د پوهانو عالمانو
دوئ موندلے ښهٔ مقام پهٔ ښه منصب دی

حوصله صبر احتیاط د ژوند کالی دی
دا نسخې د حکیمانو مجرب دی

هرې سختې ته د یو بل چې ولاړ دی
په احساس د زړهٔ یو بل ته مقرب دی

زهٔ ناتوان علیګراموال ترې نهٔ قربان شم
پهٔ خپل سوات زما شعرونه منتخب دی

د عمل جزا سزا انسان ته رسي
په اخر څه پۀ دنیا انسان ته رسي

ګوره داسې خو ښېرې د مور او پلار وي
چې اثر ئې خامخا انسان ته رسي

د نیکۍ بدله نیکي د بدو بد وي
کۀ نن نۀ وي خو سبا انسان ته رسي

دعا واخلئ نازولو د یو بل نه
چې اثر هم د دعا انسان ته رسي

معشوقې چې عاشقان سېزي په اور کښې
دغه تاؤ ئې د جفا انسان ته رسي

کۀ شي بچ ناتوانه دلته لۀ ازار څوک
خو بیا هلته ضرور دا انسان ته رسي

Pukhto.Net

پـه ژونـدون کښـې پسـرلے شـتـه هـم خـزان شـتـه
د چـا وروښـو خوشـحالی د چـا خفگـان شـتـه

پـه ژونـدون کښـې دومـره هـم غـافلـه نـهٔ شـی
پـه لمحـه لمحـه کښـې دلتـه امتحـان شـتـه

لهٔ یوې مور نه پېدا نېک بخت بد بخت شته
خوئیندو وروښو کښې بې لارې او نېکـان شـتـه

پـه گفتـار کـردار مونـدل د انسـان څـه کـړې
انسـانانو کښـې خصـلت بانـدې شـېطان شـتـه

اے ناتوانـه نـا امېـدهٔ نـه شـې چرتـه
هغـه گـل چـې دې د زړهٔ د کلـی خـان شـتـه

# وطـــــــن

وطنـه سـتا هـر يـو ازغـے مـې لکـه ګـل خـوښ دے
دا مـــې پـــه مينـــه د رېحـــان او د ســـنبل خـــوښ دے

د چينـــارونو او چينـــو نـــه دې قربـــان شـــمه زۀ
پۀ هر بوستان کښې مې چغار ستا د بلبل خوښ دے

هـر يـو بچـے دې ښـاپېرے د پرسـتان ليـد ے شـي
د هـرې سيمې شاه زلمے مې يـو پـه سـل خـوښ دے

د خوشـحال خـان او احمـد شـاه بابـا پـۀ پـل روان يـو
هـر ننګيـالې زمـا د قـام مـې سـتا اتـل خـوښ دے

چـا تـه پېـرس کـۀ ښـکلے ښـکاری يـا لنـدن ښـکلے وی
لکـه جنـت مـې پـه دنيـا کښـې وطـن خپـل خـوښ دے

خـــورۀ وطنـــه زۀ نـــاتوان ســـندرې وايمـــه ســـتا
ځکـــه مـــې ســـتا پـــۀ نـــوم وئـــيلے دا غـــزل خـــوښ دے



Pukhto.Net

پـه ژونـد کښـې راشـی داسـې ښـه وختونـه کلـه کلـه
زړګـے مـې کـړی مسـرور دغـه یادونـه کلـه کلـه

نـازک زړۀ چـې زمـا ظـالم اشـنا پرهـر پرهـر کـړی
سـېزی مـې سـرې لمبـې او سـرۀ اورونـه کلـه کلـه

د ګـل تشـه خنـدا مـې ارمانونـه پـۀ خنـدا کـړی
سـپرلی مـې د امیـد سـپړی ګلونـه کلـه کلـه

احساس کښې چې مستی خمار زما غاړۀ غړی شی
پېـدا مـې شـی پـۀ تـن کښـې غرځنګونـه کلـه کلـه

ناتوانـه چې سپرلے دی شی د ژونـد پـۀ ګلستان کښې
ښـکاره دې شـی غـزل کښـې ئـې رنګونـه کلـه کلـه

د زړۀ اسـمان کښې مـې وريځـې راخـورې شـوې ګلـه
سـتا د يـادونو د بـاران قطـرې قطـرې شـوې ګلـه

سـاقی تـه وايمـه چـې بـس دے نـور مـې واخلـه عقـل
پـۀ تـن مـې بلـې سـتا د هجـر لمبـې سـرې شـوې ګلـه

نـۀ مـې قصـور شـته نـۀ معلـوم راتـه قصـور شـولو سـتا
راتــه قبــولې چــې پــۀ څــۀ د چــا ښـېرې شــوې ګلــه

بيـا مـې شـی پـام چـې رانـه اخلـی بـه نـن څـوک لاسـونه
حساس جهان کښې مې د سوچ خطرې خطرې شوې ګله

د خيــال بوســتان مــې ريــژوی ګلونــه سـم خـزان دے
بــس ارمانونــه د زړګــی مــې ســرې ميــرې شــوې ګلــه

مـا پـۀ ژونـدون کښـې داسـې وخـت چرتـه لېـدلے نـه وو
پــه تېــر اخــر هســې زمــا ورځــې ســپېرې شــوې ګلــه

هـر څـو دې حـال کښـې کـۀ نـاتوان هـم نـا امېـدۀ نـه يـم
خـو د احسـاس پـۀ وينـو سـرې مـې سـردرې شـوې ګلـه

کالې ترې جوړ شي خو چې سرۀ کله لۀ اوره اوځي
هله شي پوهه انسان کله چې لۀ زوره اوځي

کندر خو چرې هم د چا زما پۀ خيال نۀ کيږي
خو هله اوشي چې بيدي پسې لۀ کوره اوځي

پۀ هر يو ورور په هر يو کور به سوکالي شي زمونږ
چې د نفاق بيماري کله لۀ هر لوره اوځي

لۀ شوره ځان ئې خبر نۀ کړې چې اختيار لري څوک
کله چې لاړ شي ترې اختيار هله لۀ شوره اوځي

په هغه ورځ مې بې وسي راته ښکاره شي خپله
له ډېره خشمه ګلالۍ چې مې سر توره اوځي

کۀ دې د صبر قناعت لمنه اونيوله
دلته به هله ستا نيستي ناتوانه وروره اوځي

Pukhto.Net
پښتو

چې شي واکمن بيا مجبور څۀ پېژني؟
د قام معذور او رنځور څۀ پېژني؟

هر څوک غريب لره قانون لټوي
بل څوک قانون او منشور څه پېژني؟

ورسره قدر چې د مینې نهٔ وی
هغه خمار او مخمور څه پېژني؟

چې ئې نظر کښې لېونے ښکارېږم
هغه مې زړهٔ ته منظور څه پېژني؟

چې ئې لیدلې نهٔ وی لوړه ژوند کښې
هغه د خېټې تنور څه پېژني؟

سترګې ړندې ته د دنیا چې مخ شي
هغه سکون او سرور څهٔ پېژني؟

چې د ځنګل قانون وی کوم یو ځائې کښې
هلته څوک خوار او مزدور څه پېژني؟

ورک کهٔ ناتوان شي د اولس پهٔ غم کښې
دلته ئې څوک تصور څهٔ پېژني؟

Pukhto.Net

سپرلیه راشه رنګ په رنګ ښکلی ګلونه راوړه
زمونږ په سیمه خپل ښائسته ښائسته رنګونه راوړه

غمونه رانه وړې سپرلیه بیا د تېر کال په شان
دې ځل له مونږ له خوشحالی راوړه خوندونه راوړه

راشه هر دشت هر یو مېدان او هره سیمه ګل کړه
مونږ له سپرلیه د خوشبو خوشبو بادونه راوړه

چې بلبلان د ګل غوټو کښې په چغار اووینم
د بوستانونو ګل سمسورو منظرونه راوړه

چې مې د سیمې د خزان بادونه اوزغلوی
د مستانه فضا سپرلیه سحرونه راوړه

ښه په مسکا ښه په ادا او په نازونو راشه
د سوات ناتوان له دی سپرلی کښې دیدنونه راوړه

ښومره ښائسته چې دې صورت ښکارېږي
داسې دې تن کښې برکت ښکارېږي

غرق يمه فکر کښې حېران يم ځکه
چې مې بحران کښې مملکت ښکارېږي

چرې به سپور نۀ شي تل غوړ به ګرځي
چې کوم انسان کښې صداقت ښکارېږي

پۀ حرکت سره مرام مونده شي
ژوند د حرکت نه عبارت ښکارېږي

چې مې اولس ته شو حالات سور انګار
ځکه مې تن کښې حرارت ښکارېږي

لکه نوږز مو جنګوي خپلو کښې
راته د غېرو شرارت ښکارېږي

بيا مستانه ماحول ناتوان غواړمه
چې مې جانان کښې نزاکت ښکارېږي



Pukhto.Net

Pukhto.Net
پښتو

د زوال سبب نفرت وی چې پېدا شی
د کمال سبب وحدت وی چې پېدا شی

پۀ بې ځایه غیرت بد ښکاری قامونه
ډېر نا وړے دا خصلت وی چې پېدا شی

د غرور جامه کښېږ هر چا ته بد ښکاري
خوښ انسان په شرافت وي چې پېدا شي

دلته لږ وخت هم کم نهٔ وي له جنته
دا نسخه د اخوت وي چې پېدا شي

کور ئې جوړ شي چې ئې زړونه سره یو شي
هم دا راز د محبت وي چې پېدا شي

څوک د چا سیم وزر څه کړي بې له قدره
خو مسرور په خپل عزت وي چې پېدا شي

د غرض یاران کهٔ اوړي په خاښو هم
بې غرضه یار نعمت وي چې پېدا شي

د زپلې قام چې څوک هم ترجمان شي
دا ناتوانه غنیمت وي چې پېدا شي

هر څو که په قسمت دانه وانه دۀ دا دنیا
خو بیا هم د قدرت یو کارخانه دۀ دا دنیا

څوک تل کوی جرمونه بیا هم مشر شی د قام
نصیب کښې ئې بس بام ته بهانه دۀ دا دنیا

ژوند ورکړی د سکون چاله سره د حسن و مال
بس چا له مسته مسته ترانه دۀ دا دنیا

څوک ځان ساتی کۀ پاک او د حیا غواړی ژوندون
خو ځنې چا له بیا هم قېدخانه دۀ دا دنیا

چې ګرځی د ارمان په زمکه ګل مې د ګلاب
زما د ګل د پاره ګل دانه دۀ دا دنیا

حاجت ځنې پوره شی وی ارمان پسې ارمان
غرض د ارمانونو خزانه دۀ دا دنیا

ناتوانه په دنیا کښې شته هر قسمه انسانان
زما نظر کښې ځکه افسانه دۀ دا دنیا

زۀ پـــه نختـــر او پـــه چنـــار مئـــین یـــم
پـــه خپـــل چمـــن او لالـــه زار مئـــین یـــم

د ســـــــندریزه چاپېرچـــــــل د پـــــــاره
د بلبلانـــو پـــه چغـــار مئـــین یـــم

که خوښووم ښائسته ګفتار د ځوان کول
خـو فطرتـاً ئـې پـه کـردار مئـین یـم

د ادم زاد د مینــــې رنـــګ د پـــاره
زۀ د ښـکلا پـه رنګـین ښـار مئـین یـم

د سـوات د غرونـو قـدرتی ښـکلا کښـې
د دنګـو غرونـو پـه ابشـار مئـین یـم

بې لـه سنګاره هم ښائسته سپوږمۍ دۀ
کـۀ ئـې هـر څـو زۀ پـه سـینګار مئـین یـم

یـــواځې نـــۀ لـــرم ســـپرلی خیالونـــه
نـاتوان د ژونـد پـه هـر بهـار مئـین یـم

نـهٔ شـی گـټلے د چـا زړونـه د نفـرت پـه ژبـه
زړونـه گـټلے د جهـان شـی د الفـت پـه ژبـه

ځـار لـه قلـم شـمه ملگـرو زهٔ د هغـه اديـب
څوک چې گويـا نـه وی مـدام د صـداقت پـه ژبـه

زمونږ تهذيب کښې ورته نه کړی څوک دقدر نظر
چې نهٔ پـوهيږی دلتـه څـوک د شـرافت پـه ژبـه

خپلـو بچـو تـه دا سبق بـه ښـودل غـواړی وروڼـو
چـې منـور شـی د وروری او امنيـت پـه ژبـه

دا چې زاری سوالونه وروڼه غريبان مې نهٔ کړی
د خـود داری انـدازئې ښـکاری د غربـت پـه ژبـه

غـواړم نـاتوان او پېژنـدو کـهٔ نړی خيـال زمـونږه
هلـه بـه پوهـه شـی د لـوړ انسـانيت پـه ژبـه

چې قامونو کښې پېدا شي د همت بياج
شي پېدا په کښې د شان او د شوکت بياج

چې سازش ئې زما ورونو کښې خور کړے
نن ښکاريږي ځکه مونږ کښې د وحدت بياج

زمونږ وړاندې د مغرب دغه مثال دے
پېدا شوے په هغوئ کښې د نفرت بياج

چې نفرت مونږ کښې خور کړے څه ملانو
ښکاري نن په مونږ کښې ځکه د الفت بياج

څنګ به رسو خپل مرام ته اے ناتوانه
چې تر څو به مونږ کښې وي د علميت بياج

Pukhto.Net

Pukhto.Net
پښتو

د هغــه بــام هغــه ګلفــام داســې دے
څکــه زمــا ســحر ماښــام داســې دے

لاس ئې اوچت کړل په اغاز کښې داسې
څکــه زمــا اوس اختتــام داســې دے

پــه نــاکرده ګنــاه کرېــږی اوس هــم
د چــا لمســون بانــدې بــدنام داســې دے

مــا لــه ئــې ډک راکــړه ترمورګــو پــورې
ســاقی خمــار د هغــه جــام داســې دے

دلتــه کــۀ مــر نــه شی نــو ویلــې خوشــی
وختــه پــه چــا چــې هــم الــزام داســې دے

زمــا پــۀ ژبــه مــې هــم خیــال پــوهېږی
هــر یــو ادیــب لــه مــې پیغــام داســې دے

دلته د خپل حق تپوس خوار څنګ اوکړی؟
دلتــه زمــونږه چــې نظــام داســې دے

ناتوانــه نــۀ راځــو پــه نېغــه لار چــې
همــه نــړی کښــې مــو مقــام داســې دے

مـا تـه بـه پـه هغـه ورځ وطـن کښـې تسـکين ښـکاري
کلـه پـه خنـد اچـې هـر غريـب او مسـکين ښـکاري

زۀ چـې د اولـس خپـل پـه ښستـۍ کښـې اولـس ويـنم
بيا مې ساه ښولے غوندې غرېو کښې جبين ښکاري

حســـن د جانـــان مـــې د خـــالق د فـــن شـــاهکار دے
ځکـــه مـــې زړګـــے پـــرې لـــه فطرتـــه مئـــين ښـــکاري

دا د خـــزان بـــاد بـــه پـــه وطـــن مـــې وی تـــر کومـــه
ځکـه هـر سـحر او هـر ماښـام مـې غمګـين ښـکاري

کـار چـې د غريـب اولـس د خېـر ښـېګړې نـۀ کـړي
تشـې وعـدې څـه کـړم کـه پـه خلـه ئـې ګبـين ښـکاري

هـر قسـم کـۀ سـتونزې پـه وطـن وی سـتا ناتوانـه
تـه ئـې مسـت پـه مينـه بيـا هـم تـا تـه رنګـين ښـکاري

خمار خمار جانان به راشی کنه
مسرور مسرور دوران به راشی کنه

قاصده نور لیونے کېږمه زۀ
ټکور ټکور درمان به راشی کۀ نۀ

چې په سکون سره ساه واخلمه زۀ
سپرلے سپرلے خندان به راشی کنه

چې د امېد دنیا اباده مې شی
رنګین رنګین جهان به راشی کنه

د ارمان للمه چې مې اوسپړی ګل
ارمان ارمان خوبان به راشی کنه

چې د وصال امېد بې دمه ئې کړم
ځار ځار ناتوان کښې توان به راشی کنه

ستا لــه ذاتــه مــې نــن اوځــی بهــر ســوچ
ستا پـه مینـه مـې مخمـور دے خونـدور سـوچ

چــې انســان وی د انســان ښــېګړه غــواړی
بــد خصــلته کــوی تــل د بــل د شــر ســوچ

هغــه خلــق تــل پــه دیــن دنیــا کــامران وی
چې پـه هـر وخت کښې لـری څـوک برابر سـوچ

چــې د ذات پــه ائینــو کښــې غټــان بنــد وی
دلتــه څــوک بــه کــوی ورونــو د نهــر ســوچ

ســیم و زر شــی اخــر پــاتې لــه هــر چــا نــه
کــۀ دې اوکــړو پــه دنیــا بانــدې ژور ســوچ

ســتا هــر شــعر بــه ناتوانــه اولــس لــولی
چــې کــوې داســې پــه فــن او پــه هنــر ســوچ

نه ئې ديدار کيږی نۀ وخت ئې د هجران ختميږی
نۀ يم مايوس نۀ د يادونو ئې باران ختميږی

د حوصلې په غرولاړ يم د محبوب احساسه
خو نۀ ژړا راځی او نۀ زما خفګان ختميږی

زۀ په زخمی وزرو هم الوت کولې نه شم خو
نه منزل مومه او نه د وخت طوفان ختميږی

خبر دې نه کړم په قصور زخمی زخمی ارمانه
نۀ مې لمنه بچ شوه نه ويرژن دوران ختميږی

ناتوان په دې خبره ځکه بې قرار يمه چې
نۀ اطمينان مې کيږی نۀ مې امتحان ختميږی



Pukhto.Net
پښتو

خدایه مونږ باندې سحر کښي توره شپه دهٔ
د پښتون په لرو بر کښي توره شپه دهٔ

ځېلې غوڅې د رقيب مې مکرژن شه
د جانان د زړهٔ کودر کښي توره شپه دهٔ

سمې يوړلې سېلاب غرونه لګړه شول
زما ورورنو په خيبر کښي توره شپه دهٔ

د وطن د دروازې په چونډ کښي ګورم
د ننه پرېږده خو په ور کښي توره شپه دهٔ

اجرتي دے د وطن هر يو قاتل مې
يا ئې عقل او په سر کښي توره شپه دهٔ

په شرونو مې وطن اشر اشر شو
اے ناتوانه سم محشر کښي توره شپه دهٔ

د ژوند اختیـار او بې وسی چې دۀ د چا پـه لاس کښـې
وایـه رښـتیا د انصـاف تلـه شـوله سـتا پـه لاس کښـې

مجنــون غوښــتله کــه وفــا د محبــت مکتــب کښــې
خــو د الفــت دا فیصــله وۀ د لیلــی پــه لاس کښــې

مــا د رقیــب لاره کښــې هــم ازغــی کرلــی نــۀ دی
خـو بـې وسـی مـې د دې وخـت ده د الله پـه لاس کښـې

د ملګرتیــا رســۍ تړلــې چــې مــې چــا ســره وۀ
پوهــه شــوم وه مــې دا رســۍ د بــې وفـا پـه لاس کښـې

نــاتوان خفــه کــۀ شــم یــو شــعر نــیم بــه اووایمــه
ګنـی نـور څـه دی وروښو دلتـه کښـې زمـا پـه لاس کښـې

مــونږه د امــن د روری او روڼ ســحر خلــق یــو
مـونږ پـه جهـان کښـې ځلنـدۀ لکـه د نمر خلق یـو

مــونږه دنیــا تــه د ورورۍ امــن پېغــام ورکــړے
مــونږه د امــن پــه وږمــو کښــې معطر خلــق یــو

زمــونږه مینــې او عظمــت تــه ســلام کــړے غمــاز
مونږ دې فطرت کښې پـه مثـال د سمندر خلق یو

دنیــا بــه مــونږه پـۀ کــردار خپــل بانــدې تــل یــادوی
مــونږۀ پــه پــاڼو د تــاریخ کښــې زور ور خلــق یــو

مونږ هر انســان تـه د خپـل ځـان قـدر ښـودلے مـدام
ناتوانــه مــونږه د نفــرت نــه لاس پــۀ ســر خلــق یــو

حجره وسوه ګودر وسو چينار وسوزېدهٔ
جمات وسو کور کلے وسو ښار وسوزېدهٔ

رنګين چې پېښور وو او جنت وو زما سوات
په هېر سپرلی مارغان او لاله زار وسوزېدهٔ

نظر د چا اوړ سترګو کهٔ سازش وو د غماز
ښائسته چې مې د ګل وطن سينګار وسوزېدهٔ

راغستې چا تهذيب او په کلتور پسې زمونږ
خاوند ده چې د زړونو مو بهار وسوزېدهٔ

قلم ئې غرېو ډک دے نن ناتوان ښکاری پرنم
سم وتی لهٔ قلم ئې تول اشعار وسوزېدهٔ

ژوند کښې چې تراخه نه وي نو ژوند نهٔ وي
ژوند کښې چې خوارۀ نهٔ وي نو ژوند نهٔ وي

ژوند خو د همت او حوصلې نوم دے
تل چې حوصله نهٔ وي نو ژوند نهٔ وي

زهٔ د روڼ سبا امېد لرم ژوند کښې
خو ژوند کښې چې شپه نهٔ وي نو ژوند نهٔ وي

وائي انتظار ئې د احساس راته
ژوند کښې چې هغه نهٔ وي نو ژوند نهٔ وي

وایم ناتوان راشئ د یو بل په کار
داسې چې جذبه نهٔ وي نو ژوند نهٔ وي

پښـــتو پښـــتون او خپلــه پښـــتونخواه اوپېژنـــۀ
کتـــاب قلـــم او هـــم دې درســـګاه اوپېژنـــۀ

خـدمت کـۀ د پښـتو او د ادب کـول تـۀ غـواړې
بيــدار شــه خپلــه ژبــه کښــې دې ســاه اوپېژنـۀ

چې اخلی دې د ګل لاس نـه قلم او څوک کتـاب
ستا خپـل نـۀ دے خبر شـه دا بـد خـواه اوپېژنـۀ

کۀ ډکه وی د وخت غېږله خفګان او خوشحالۍ
اديـــب شـــه ســـترګو رشـــۀ اه او واه اوپېژنـــۀ

ناتوان وائی نـن ځوان تـه بچـی د خپـل افغـان تـه
پۀ وخت مې تۀ خبر کړې خپل خېر خـواه اوپېژنـۀ

هلــه بــه کــامران شــی د مکتــب خلــق
کلــه چــې پېــدا شــی د طلــب خلــق

طمــع د اخــلاص تــرې چــرې او نـهٔ کــړې
څوک چې وی دنیا کښې د مطلب خلق

اورسـی چـې ځـائې تـه پـه اوګـو زمـونږ
ځــان کــړی بیــا ناجانــه د منصــب خلــق

هغــه ورځ بــه خپــل عمــل راځــی پــه کــار
یــو بــل نــه چــې تښــتی د نســب خلــق

هســې یــاران خــوښ وی د نــاتوان همــه
ټولــو کښــې ئــې خــوښ وی د ادب خلــق

څوک په احساس چې د خپل قام پوهيږي
ټولــه دنيــا ئــې پــه مقــام پــوهيږي

هغــه قامونــه تــل منــزل تــه رســي
چــې د تعلــيم پــه احتــرام پــوهيږي

څــوک چــې وهلــې وي د وخــت څپيــړو
څــه بــه ســحر او پــه ماښــام پــوهيږي

ديــن او دنيــا ورلـــه جنـــت ګڼمــه
چــې پــه حــلال او پــه حــرام پــوهيږي

ورتــه حيــران ګوتــه پــه خلــه پــاتې شــم
څــوک چــې د ژونــد پــه انتظــام پــوهيږي

مغــرب بــه راج پــه دنيــا ولــې نــه کــړي
پــه خپــل مقصــد پــه خپــل مــرام پــوهيږي

نــاتوان ســاده شــعرونه ځکــه لــيکم
پــه ســاده ژبــه مــې عــوام پــوهيږي

دا نـــوے دور نـــوے بـــاب غـــواړی
ډکـــه لمنـــه انقـــلاب غـــواړی

د دې اولـــس ئـــې لاړ خطـــا کړلـــه
مـلا پـهٔ دې ځـان لـه ثـواب غـواړی

رهبـر پـهٔ کـوم لـوری بـوځی مـونږه
دا چې زمـونږ نـه جی جناب غـواړی

مـونږ اولیـدو د وطـن هـر یـو تـن
ژوبـل احسـاس زمـا خطـاب غـواړی

ارمـان مـې چغـې چغـې ښـکاری نـن
هغـه جلـوې هغـه افتـاب غـواړی

د اولـس غـم دومـره نـاتوان کړمـه
بې دمـه تـن مـې بلهـا تـاب غـواړی

بـد عمـل د ے بـد کـردار د ے زړهٔ خفـه کـول د انســان
حقیقت کښـې یـو بـد کـار د ے زړهٔ خفـه کـول د انسـان

پـه انسـان پـورې ملنـډه پـهٔ انسـانیت تـور داغ د ے
پـــه انســانیت ګــزار د ے زړهٔ خفــه کــول د انســان

د انســان د زړهٔ یــو اه هــم عبــث نــهٔ درومــی ملګــرو
تــل د خپلــو اوښو بــار د ے زړهٔ خفــه کــول د انســان

ګزران داسې هم پکـار د ے چې ازار د چا زړهٔ نـه شـی
پـه دنیـا کښـې لـوئے ازار د ے زړهٔ خفـه کـول د انسـان

نـاتوان وائـی هـر انسـان تـه د انسـان قـدر پکـار د ے
بـس ګنـاه وروښـو بېسـار د ے زړهٔ خفـه کـول د انسـان

لرمـــۀ حوصـــله کـــه د حـــالاتو انګـــار ســـور شـــی
کـــؤوم مقابلـــه بـــه کـــه جهـــان راتـــه تنـــور شـــی

مئـــین پـــه خاکســـارۍ او عـــاجزۍ یمـــه یـــارانو
پـۀ دې خـوئې شـرمندۀ راتـه غمـاز شـی او تربـور شـی

د زړۀ په شیش محل کښې ئې ساتمه ډېر په ناز کښې
کـۀ سـل ځلـه سـادۀ بـاده جانـان تـه مـې قصـور شـی

هـر څـو کـۀ پـه یوسـف پسـې نظـر د یعقـوب لاړو
خـو هغـه کیـږی وروښـو چـې لـه خدایـه څـه منظـور شـی

احساســه کــۀ عـــلاج د جهالـــت او غربـــت اوشـــی
نۀ دلته به څوک غل جوړ شی او نۀ به څوک مفرور شی

چـې پوهـه انسـان دلتـه ځـان جاهـل کـړی اے ناتوانـه
هــم دغســې انســان مــې دې چمــن لــره ناســور شـــی

کوم یو انسان چې له همته خپلې پښې اوباسي
په ناراستۍ د بل له جیب به ځنګ پیسې اوباسي

ملګرو دې ځل له روژۀ په پشکال کښې راغله
الله دې ښکال پۀ اسانه دا روژې اوباسي

ورونو ډیر ښه وی پۀ دنیا کښې د ځوانۍ عبادت
څه ئې بیا خوند وی چې په پیرۍ کښې څوک توبې اوباسي

د داسې تن له حاله څوک دې خدائے خبر هم نۀ کړی
چې د جانان هجران کښې څوک ګرانې مودې اوباسي

د اولس خوار غریب مې ځکه پۀ دې حال ژړوی
چې سر ترپایه مزدورۍ ترې نۀ خولې اوباسي

ناتوانه خپل تهذیب خوښومه د حیا تهذیب دے
نور تهذیبونه د حیا رانه جامې اوباسي

د زړۀ پۀ غوښو کښې مې غنې ګرځی
چې پۀ وطن زما مېچنې ګرځی

دا سور انګار حالات اسان کړې خدایه
چې هواګانې نن تېژنې ګرځی

خدایه شمکور کړې د اغیارو نظر
چې غمازیان سترګې خچنې ګرځی

ټوله نړۍ تصویر د امن ښکاری
زما وطن باندې چاؤدنې ګرځی

وطن چې غواړی دې ویجاړ ناتوانه
داسې اغیار بۀ تور لمنې ګرځی

ډکه له غروره چې وی سر نۀ غواړم
چې عیب لری داسې نظر نۀ غواړم

چې پرې فرشی سلام ته اودرېږمه
داسې دربار او داسې ور نۀ غواړم

پۀ کښې ذلیل چې زما ورور قام شی
زۀ داسې لر او داسې بر نۀ غواړم

د وخت جنګی ګډ ته نعرې وهمه
قلار شه زۀ پۀ دنیا شر نۀ غواړم

ناتوانه بې له هغه خدائے لۀ دره
د غلامۍ چرې یو در نۀ غواړم

چې خوارو زار مونږه غلیم غواړي
وخت رانه پوهه او تعلیم غواړي

لکه قیامت دے مسلط په مونږ
دا غور نن عقل سلیم غواړي

چې د وطن او قام خدمت اوکړي
زمونږ نه وخت داسې خادم غواړي

زما احساس ورسره هم ژاړي
ظالم چې ظلم په یتیم غواړي

والوزوي چې ګرد له هر ګل نه
داسې مې زړۀ باد نسیم غواړي

چې په کار راشي د اولس ناتوان
پوهه له هغه ذات علیم غواړي



Pukhto.Net

د جهالت او له تیارو ویرېږم
د بل په سر د شېطانو ویرېږم

چې مې پوره شی پرې مقصد او غرض
له دې دروغو بهانو ویرېږم

واعظه زۀ ورته په بیا بیا ګورم
کۀ لۀ نظر ئې نیم کښو ویرېږم

دا چې کوڅه کښې پاروی ئې خلق
په دې ازار د لېونو ویرېږم

بې عزتی چې ئې انجام وی وروڼو
داسې په ژوند د یارانو ویرېږم

ځان غورځېدلے له پښتو نۀ غواړم
خو زۀ له بې ځایه پښتو ویرېږم

ناتوان جواب د مشرانو نۀ کړم
زۀ له فطرته د ښېرو ویرېږم



Pukhto.Net
پښتو

نن چې د مينې پۀ تګ لار خلق شته
ځکه منصور غونډې په دار خلق شته

لکه د ګل مسکې غربت کښې ښکاري
داسې ژوندون کښې ډېر خود دار خلق شته

ډک له حيا او د پردې دے ورونو
زمونږ تهذيب کښې حيا دار خلق شته

په پسته خوله چې غر کښې لار اوباسي
دا سې د وخت غېږ کښې فنکار خلق شته

هر چا ته هر ځائې بې وفا مۀ وايه
ګرانه دنيا کښې وفادار خلق شته

تش پۀ نامه چې ئې ژوندے يمه زۀ
داسې د زړۀ زما بهار خلق شته

لرم بيرغ د امېد لاس کښې ناتوان
چې اوس هم هر ځائے ايماندار خلق شته



Pukhto.Net

نهٔ وی چې هغه سیم و زر نهٔ غواړم
داسې بې مزې لوئے اختر نهٔ غواړم

نمر که ئې له حسن نهٔ شرمیږی خو
نهٔ لری وفا چې دلبر نهٔ غواړم

نهٔ کړم د شاهین غوندې الوت چې پرې
داسې د خیالونو مات پر نهٔ غواړم

لاس نهٔ د بچی چې مې قلم اخلی
دا بې علمه خوشې کنډر نهٔ غواړم

نن ورله ورځم چې د لاسه ئې کړم
څوک په دې اختر مرور نهٔ غواړم

ځان په خپل هنر چې ورته بد ښکاری
ورک دې شی دا فن او هنر نهٔ غواړم

شی چې بارودی فضا ناتوانه پرې
بد دلته د غیرو نظر نهٔ غواړم

مه اخلئ وروڼو د بې وزله انسانانو ازار
مهٔ ګڼئ چرې هم عبث د یتیمانو ازار

زمونږ تهذیب کښې قدر کیږی د هر مشر انسان
نهٔ اخلی کشر چرې هم د مشرانو ازار

کهٔ وی کافر یا مسلمان خو چې د ظلم ښکارشی
د خدائے غیرت راپاروی د بندګانو ازار

موندلې نهٔ دے له ازاره چا بازار ملګرو
چرې خطا نهٔ ځی په ژوند د مظلومانو ازار

د تکبر لاس رسوې کهٔ تر اسمانه پورې
عبث نهٔ درومی پام کوهٔ د غریبانو ازار

ادیب اصلاح کوی د قام ورته سپک مهٔ ګورئ څوک
ناتوانه مهٔ اخله په ژوند د ادیبانو ازار

څوک چې کارونه د انصاف کوي
څوک به تري څنګه انحراف کوي

لاره تل ورکه وي له هغه چا
څوک چې د دین نه انحراف کوي

چې تېروي بې داغه ژوند انسان
خپل او پردے ئې اعتراف کوي

تنګ به د هغه چا مدام لاس وي
کوم یو انسان چې هم اسراف کوي

راته ناسور د دې جهان ښکاری
چې د ظالم نهٔ څوک طواف کوي

هله ناتوان شي مطمئن له شعر
بیان په شعر کښې چې صاف کوي

Pukhto.Net

ملګــرو پــۀ دنیــا کــۀ پــه مونــدو ده زنــدګی
خــو بیــا هــم ځنــې دلتــه پــۀ تنــدو ده زنــدګی

څوک پاتې پۀ مزل د زغـل کښـې هم شی لۀ منزل
کــۀ تــل ئــې د همــت او پابنــدو ده زنــدګی

خو بیـا مـې هم یقـین د ے دا لـرم سـپېځلے خیـال
همــت بــه کــول غــواړی د ژونــدو ده زنــدګی

ســتا یــو نظــر زمــا پــه همــه ژونــد کــړے اثــر
زمــا ســتا پــه ســبب د پېژنــدو ده زنــدګی

چـې زلفـې د دنیـا چـا تـه شـی دام او چـا تـه تـال
احساســه ســم پــه ســترګو د ړنــدو ده زنــدګی

ناتوانــه بــې امېــده ژونــدون تــل وی مایوســی
امېــد لــرم چــې تــل د ګړنــدو ده زنــدګی

دا پـه ګلونـو کښـې ښې حـده چـې مجـذوب د ے هغـه
پـه کـل جهـان کښـې هـم زمـا د زړۀ محبـوب د ے هغـه

چـې د زمـان او د مکـان د هـر مشـکل نسـخه دۀ
زمـونږ د پـاره د خـدائے ژبـه کښـې مکتـوب د ےهغـه

چـې پـه دنیـا کښـې ورتـه زېـر ے د جنـت شـو ے د ے
د خدائے لۀ ویرې بیا هم هر وخت کښې مرعوب د ےهغه

زمـا د زړۀ سـترګې نظـر کـوی تـر لـرې پـورې
هـره زره کښـې چـې ځیګـر تـه مـې مطلـوب د ے هغـه

چـې کـوم مضـمون کښـې ئـې صـفت کلـه بیـان کړمـه زۀ
پـۀ فـن پـارو کښـې راتـه فـن بېسـیار مرغـوب د ے هغـه

شـکر نـاتوان ځکـه سـبا او هـم بېګـاه اوباسـم
چـې پـۀ امـت کښـې پـه رحمـت سـره منسـوب د ے هغـه

چې د ظالم به د داستان ترجماني کوي ځوک
غوږ کښې د دۀ به د اذان ترجماني کوي ځوک

دلته د حق او د باطل تميز چې ورک شي کله
د دې به مېنځ کښې د پهچان ترجماني کوي ځوک

زړۀ کښې د فن چې شي ارمان کله د کونډې يتيم
دلته د دوئ به د ارمان ترجماني کوي ځوک

نن دې ګرانۍ چې پۀ بې وسو کوم خزان راوستے
دلته د خوار به د خفګان ترجماني کوي ځوک

چې د اولس ځنې کسان پۀ کړه لاره درومي
د دې اولس به د نقصان ترجماني کوي ځوک

لۀ عظمت ډکه د غازي چې د امېد دنيا وي
د دې ښاغلي به د شان ترجماني کوي ځوک

Pukhto.Net

دا تصور چې دې زما نه څوک سړے خفه شي
زۀ دا هم نۀ غواړم چې ما نه د ے مېړے خفه شي

زۀ خو دا وايم چې مخلوق ازاروی کوم انسان
هيڅ شک په دې نۀ کړم لۀ دۀ نه چې به خدائے خفه شي

د مينې ډک لرمه داسې خپل ځيګر يارانو
نۀ غواړم چرې چې زما نه دې زړګے خفه شي

نۀ له اولاده مورو پلار دې په دنيا ازار شي
نۀ لور د مورو پلار خفه دې شي نۀ زوئے خفه شي

ناتوانه داسې ژوند زما د ے تېرول لوے ارمان
رانه انسان په خواره باد او نۀ ښاروے خفه شي



Pukhto.Net
پښتو

په بې ګناه باندې ګذار ته پښتو نهٔ وائی څوک
د يو مظلوم د زړهٔ ازار ته پښتو نهٔ وائی څوک

ځان ته غيرت چې او دروی په معمولی خبره
داسې نرتوب داسې شا تار ته پښتو نهٔ وائی څوک

هسې په پوله او پټی چې څوک قتلونه کوی
داسې ناحقه مرګ و مار ته پښتو نهٔ وائی څوک

دا چې ئې بدې وی راښکلې پهٔ شرونو پسې
داسې عمل داسې کردار ته پښتو نهٔ وائی څوک

چې په کمزوری زورور کوی هر قسمه لوبې
داسې خصلت او داسې کار ته پښتو نهٔ وائی څوک

ناتوانه ډېره اوکړه نن تهٔ له غلطې پښتو
وروستو ژړا ځارو قطار ته پښتو نهٔ وائی څوک

Pukhto.Net
پښتو

لرم ارمان چې په نړۍ دې هر یو ځائے امن شی
په سمه غر په هره دشته دې سپرلے امن شی

خدایه د امن خواره داسې په انسان وشیندې
ربه چې ځوان مشر نر ښځه او بچے امن شی

مینه روری امن پیدا کړې په هر لور خالقه
د تاؤده باده په ژوندون چې مې زړګې امن شی

خدایه له شر او کر کې داسې هره خوا صفا کړې
له بدامنۍ چې ربه هر ځائے هر سړے امن شی

تل د جنګونو فسادونو او شرونو هر خوا
ادم زاد څه چې په جهان هر ځائې څاروے امن شی

ناتوان انګۍ انګۍ اواز غوا رمه داسې هر خوا
د ساه خاوند ربه په مثل چې میږے امن شی

لامـــې نيـــولې ده خـــالي د ارمـــانونو جـــولۍ
چـــې بـــه زمـــا شـــی کلـــه ډکـــه د وختونـــو جـــولۍ

د زړۀ پـــه کـــور مـــې ســـتا وريـــږی د يـــادونو بـــاران
ســـتا مـــې نيـــولې دۀ ښـــۀ کلکـــه د يـــادونو جـــولۍ

د جـــدائۍ احســـاس دې مـــا لـــه دومـــره زور راکـــوی
لکـــه نســـکوره چـــې د چـــا شـــی د ګلونـــو جـــولۍ

خالقـــه زۀ چـــې دې پـــه تـــن دومـــره حســـاس پيـــدا کـــړم
اوس خـــو منظـــوره مـــې کـــړۀ ځـــان تـــه د ســـوالونو جـــولۍ

هلـــه بـــه تيـــر شـــی چـــې شـــی هيـــر د بـــې وســـۍ وختونـــه
خدايـــه کـــړې ډکـــه تـــۀ زمـــا د اميـــدونو جـــولۍ

د هغـــه چـــا بـــه لمبـــې ځنـــګ پـــۀ بـــدن نـــۀ بليـــږی
چـــې ئـــې اغســـتې غـــر غـــرو وی د اورونـــو جـــولۍ

ناتوانـــه هســـې هـــره شـــپه رانـــه خوبونـــه ويـــنم
چـــې شـــم بيـــدار هغســـې وی مـــې د خوبونـــو جـــولۍ



Pukhto.Net
پښتو

څومره چې د چا هم وي نظر ښکلې
داسې کړي هر چا باندې اثر ښکلې

هر څو که همه وطن ښائسته لرم
ښکاري راته بيا مې هم خيبر ښکلې

کله چې مسکۍ شي لکه ګل غوندې
ډېر شي هغه ځائې کښې بيا منظر ښکلې

حسن د يوسف د چا نه پټ نۀ دے
بيا هم دے لۀ ټولو پيغمبر ښکلې

کله چې رنګين مې شي د خيال ګودر
ښکاري مې سحر او مازيګر ښکلې

خدايه تا هم ډېره عاشقي کړې
تا ته چې جهان کښې دے دلبر ښکلې

زۀ ناتوان مئين يم په ادب او فن
ښکاري راته ځکه فن هنر ښکلې



Pukhto.Net
پښتو

فطرت لرمه داسې هر انسان مې د زړۀ سر دے
رښتيا وايم ملګرو چې افغان مې د زړۀ سر دے

وړمې ترې ټولوومه چې په لور د ګلو لاړ شم
ګلونه خوښومه ګلستان مې د زړۀ سر دے

د زمکې ښيرازۍ لره باران ډېر موثر وی
زندۀ چې مړاوی بوټی کړی باران مې د زړۀ سر دے

انسان مې هر يو خوښ وی خو يوه خبره شته دے
پۀ واړۀ انسانانو کښې جانان مې د زړۀ سر دے

مقام مې د الوت چې تر اسمان ښکاری ملګرو
په جار باندې ناتوان وايم اسمان مې د زړۀ سر دے

هغه څه وي چې شرینه مینه نهٔ وي
هغه څه وي چې رنګینه مینه نهٔ وي

یو تر بله چې جذبې د خلوص نهٔ وي
ګله هغه نازنینه مینه نهٔ وي

د محبوب مینه به زړهٔ کښې څنګ پیدا شي
چې په زړهٔ کښې د چا سپینه مینه نهٔ وي

فرهاد څنګه ماتول به سنګین غرونه
دومره چا ته چې زرینه مینه نهٔ وي

چې ګولۍ وروي سترګې د جانان مې
بیا به څنګ ګولۍ ورینه مینه نهٔ وي

په بوستان د عشق کښې نهٔ ږدي څوک قدم خپل
د جانان چې ګل ورینه مینه نهٔ وي

په کښې تېر چې څوک له سر او ماله نهٔ شي
اے ناتوانه هغه مینه نهٔ وي

اُمېد بنياد وی د ژوندون د پاره
همت بنياد وی د بدلون د پاره

د زورور د پاره نشته قانون
غريب پېدا دے د قانون د پاره

زما بچو سبق په مينه وايی
د روڼ سحر او سباؤن د پاره

د ورانولو کار له ډېر خلق وی
خوځوک ئې نۀ وی د سمون د پاره

کۀ تعصب او تربگنی ئې پرېښوه
ښه به وی دا د ورور پښتون د پاره

د چا هم خوښ نۀ وی تکليف او غربت
هر تن ارمان لری سکون د پاره

علم او پوهه کړۀ تر لاس ناتوانه
علم خو دے هم د لټون د پاره



Pukhto.Net
پښتو

څوک چې چنار اوشین نختر ختموي
په بې دردۍ څومره شجر ختموي

تر څو غفلت کښې چې پراته یو مونږه
مونږه به غېر تل په هنر ختموي

د صدقې ورکول داسې وي چې
د بلاګانو زور اکثر ختموي

رنځ چې اثر اوکړي د چا په بدن
سنګین بدن لکه د غر ختموي

داسې انسان ته دے حاجت د اولس
چې د اولس زمونږه شر ختموي

نفرت خپل زهر خوروي داسې چې
د امنیت هر خوا اثر ختموي

خزان چې راشي په چمن ناتوانه
ښائسته ګلونه معطر ختموي

څوک مې حالات به د ماضي چې يادوي اوکنه
ما د اولس به څوک سړي چې يادوي او کنه

د قام د ځوان مې اوبه خور کړے د زړۀ په وينو
خدائے زده سبا به مې زلمي چې يادوي او کۀ نۀ

د رڼا لاره مې ښودلې تل بچي بچي تۀ
ما خپل بچيان به ګلالي چې يادوي او کۀ نه

ما قدرتي ښکلا بخښلې د قلم څوکې ته
ما به ورېمې د پسرلي چې يادوي او کۀ نه

چې مې د هر انسان ساتلے پۀ کښې قدر مدام
څوک د ناتوان به شاعري چې يادوي او کنه



Pukhto.Net
پښتو

چې حوصله ئې ځوانه نۀ وی داسې ځوان پرېږده
چې په کار نۀ شی د انسان داسې انسان پرېږده

هسې که ناست په خزانه وی د خمار دغونډې
نۀ وی په طبع چې سلطان داسې سلطان پرېږده

د دې وطن چې د سازش درته قیصې کوی
وفادار اوسه داسې تن داسې داستان پرېږده

راته جوړ کړے دے خپل عقل او شعور خفګان
راته هر څوکه زړګے وائې چې خفګان پرېږده

د حق د پاره خپل قلم چې استعمال نۀ کړی
د داسې تن داسې قلم او قلمدان پرېږده

چې شی سبب د تباهۍ او بربادۍ د قام
دا قافله داسې لښکر داسې کاروان پرېږده

چې پۀ کښې قام ته د ورورۍ مینې پېغام نۀ وی
وائی ناتوان داسې ټپه او یا قربان پرېږده

راته نۀ ښکاری څوک نن پاک له تنقیده
ځان دې نۀ ګڼی یو تن پاک له تنقیده

برهمن ته چې شودر ښکاری ذلیله
څکه نۀ شو برهمن پاک له تنقیده

د یو بل سره روان تنقید تخلیق وی
ګڼل غواړی دا ګفتن پاک له تنقیده

کۀ نقادوی څو خامونه به پاک نۀ وی
ځان ته وائی دروغژن پاک له تنقیده

مۀ ویرېږئ له تنقیده تخلیق اوکړئ
چرته هم نۀ وی یو فن پاک له تنقیده

چې جانان مې ځان کوڼ کړے وو په غوږو
پاتې نۀ شوه مې لمن پاک له تنقیده

کۀ په مینه دې څوک شک کوی ناتوانه
دلته نۀ وی یو مئین پاک له تنقیده

ناراستی مۀ کوۀ نېک کار کښې ښه اقدام دغه دے
د هر یو ورور په نامه هم زما پېغام دغه دے

د لاس او ژبې د انسان نه که محفوظ شی انسان
زما په خیال اصل کښې روح هم د اسلام دغه دے

ښه په اخلاص د مورنۍ ژبې خدمت کوومه
دا چې قلم لاس کښې لرم زما مرام دغه دے

تا سره بد کوی تۀ ښه کوۀ عظمت هم دا دے
چې شر مسار شی په اخلاقو انتقام دغه دے

دا هسې نۀ خو په تعلیم کوی نن راج په دنیا
نن په نړۍ کښې د مغرب ځکه مقام دغه دے

د هر مذهب او عقیدې د انسان قدر کوۀم
وائی ناتوان زما مقصد هم د کلام دغه دے

خدایه اودروه باران چې جانان راشي
نور مې مه اخله امتحان چې جانان راشي

په هر لور نن د خزان سوری خوارهٔ دی
سپرلی راوله خندان چې جانان راشي

د ارمان دنیا مې سوې په هجران ده
شي پوره به مې ارمان چې جانان راشي

ساقي شونډو ته د سر مې ارزو راغله
په ما اوکړه دا احسان چې جانان راشي

کهٔ هر څو د زړهٔ دنیا مې شوله ړنګه
دا دنیا به شي ودان چې جانان راشي

کهٔ هر څو همه ماحول په ژړا ښکاري
دا به شي جانان جانان چې جانان راشي

بلها هجر د جانان سوے په اور یم
شي ناتوان به تري قربان چې جانان راشي

شروع چې د قامونو مینځ کښې کله هم نفاق شی
نفرت په کښې خوریږی ترې نه ورک هم اتفاق شی

پۀ عقل کۀ بهلول وی خو چې نۀ لری دولت څوک
غټانو ځنو ځنو لره جوړ هسې مذاق شی

په وخت چې همت او نۀ کړی بیا هغه خوند ئې نه وی
منزل ترې لرې پاتې شی بیا هر څومره کۀ چاق شی

کۀ دلته بې نوا دې کړی انسان له خپله دره
پرواه مه کوه هر چا لره هغه ذات رزاق شی

ښه ښکلے څاروے ګوره قربانئ د لوئے اختر له
ناتوانه جنت تلو لره به ښکلے دې بُراق شی

Pukhto.Net

Pukhto.Net
پښتو

سپینه سپینه پا غونده شوه واؤره واؤره
چې نظر کښې مې ښکاره شوه واؤره واؤره

وریږدو سره د واؤرې موسم یخ شو
چې په زمکه او په غره شوه واؤره واؤره

ګل ورينه د حيرت په ژبه وائي
خدايه بيا کچه کوڅه شوه واوره واوره

دا ئې ويل چې به ناڅاپه زۀ راځمه
ګله ستا هغه وعده شوه واوره واوره

چې کوڅه ئې په توګلو شروع اوکړه
له يخنۍ نه سره غنچه شوه واوره واوره

د احساس شپيلۍ مې هجر کښې شوه سازه
د واورين موسم نغمه شوه واوره واوره

له خولې آه مې سوړ اوځى چې کوم خوا ګورم
چې بلۍ مې شوه کوڅه شوه واوره واوره

ورځ مې هم کړۀ په يادونو کښې ستا تيره
ستا ارمان کښې مې هم شپه شوه واوره واوره

اے ناتوانه د اميد لمن پرې نه ږدې
هر لحظه که دې په زړۀ شوه واوره واوره

رنګين رنګين احساس باندې رنګينه شاعري شي
غمګين غمګين احساس باندې غمګينه شاعري شي

وطن غواړم خپلواکه په اسلام او قام مئين يم
په دې سبب تخليق مې مينه مينه شاعري شي

طوفان چې په اولس زما راغلے کله هم دے
زما د پښتو توري وينه وينه شاعري شي

پيدا پاکې جذبې کړي د اولس په هر يو تن کښې
چې کله د قامونو سپينه سپينه شاعري شي

فکرونه چې له ورونو مې کړي بچ له ګمراهۍ نه
هر چا ته قدرمنه نازنينه شاعري شي

کۀ اوساتو ځانونه له دروغ ګويۍ نه مونږ خپل
خوږه به مو ملګرو له ګبينه شاعري شي

ناتوانه هر لوستونکے به په مينه ئې تل لولي
چې کله په قلم دې ګل ورينه شاعري شي

ستا جولۍ جولۍ یادونه
د مستۍ مستۍ جامونه

ستا په یادو رڼا ورځ کښې
کړم تالۍ تالۍ خوبونه

ستا په مینه به مې تل وي
دا سپوږمۍ سپوږمۍ خیالونه

ستا هجران مې نازک زړۀ کښې
شي ګړۍ ګړۍ داغونه

درته ږدمه هر قدم کښې
زۀ دلۍ دلۍ ګلونه

سر تر پایه مې ګل ګل کړې
ستا کلۍ کلۍ نازونه

د پښتو توري ناتوان له
کړې ډالۍ ډالۍ شعرونه



Pukhto.Net
پښتو

ترڅو چې لاد حسن دا پری به مې ژوندۍ وی
تر هغه دمه تل منت زاری به مې ژوندۍ وی

یارانو هغه نه یم چې ئې پرېږدم نیمه لار کښې
بائیلمه په کښې سر خو دا یاری به مې ژوندۍ وی

که سل ځله انکار کړی خو سل ځله به ورځمه
کوڅه به ئې ساتمه دلداری به مې ژوندۍ وی

امید کښې به ئې ګرځمه که پښې مې شی تنهاکې
که سختې مرحلې وی خو خواری به مې ژوندۍ وی

ناتوانه دې ارمان باندې خاطر له دنیا تلې
اخر زهٔ به هم لاړ شم شاعری به مې ژوندۍ وی

وختــه د ســتم کــه دې نــن لاس نــه وے
مــا ســره بــه هــم دومــره وســواس نــه وے

ولـــې پوهېـــدم بـــه نـــهٔ پـــه شـــپه او ورځ
خدايــه کــه پــه تــن دومــره حســاس نــهٔ وے

نــهٔ بــه وچېــده وينــه پــه تــن کښــې مــې
زړهٔ کښې مې جانان که دومره پاس نهٔ وے

زهٔ بـــه د فکرونـــو ســـمندر نـــهٔ ووم
نــن زمــا پــه زړهٔ چــې دومــره بــړاس نــهٔ وے

زهٔ بــه خپـــل ضـــمير تـــه ملامـــت وومـــه
مـــا ســـره ناتوانـــه کـــه احســـاس نـــهٔ وے



Pukhto.Net

مونږه لکه ستوري داسمان ښکلې منظر لرو
مونږ په خپله خاوره تل نظر په سمه غر لرو

مونږه استقلال د زمانې ګردش کښې پېژنو
مونږه سادګي لرو هم پوهه او هنر لرو

زمکه خدائے راکړې مردم خېزه ده زرخېزه ده
مونږ د پاکې خاورې خزانې د سیم و زر لرو

مونږه د تاریخ د ځلنده تاریخ بابونه یو
مونږ په خپله زمکه تل اختیار په بحرو بر لرو

خپل د ځلنده تاریخ نه داسې یو خبر ورونو
مونږه د شاهین غوندې پرواز لرو نظر لرو

مونږ د ننګ ښېګړې د ناموس خبرې پېژنو
مونږه د عظمت د غر شملې جګې په سر لرو

اے ناتوانه مونږه یوه څرېکه د یولاس ګوتې
مونږه هره سخته کښې نظر په لر او بر لرو

Pukhto.Net
پښتو

په مینه یم ژوندے او دا دنیا تل د ژوندو ده
نازونه اداګانې او خندا تل د ژوندو ده

هر څوک چې کتاب ولیکی ملګرو تل ژوندے شی
دا لاره تر منزله په رښتیا تل د ژوندو ده

اعتبار او وفا لوئې نخښې دی د ژوندی قام
ښه نخښه په ژوندون کښې د وفا تل د ژوندو ده

نن ورونه بد بد کړی مې دی وخت خپله لمن کښې
هر څوک ئې رنګینی شور په هر خوا تل د ژوندو ده

په سپین جبین چې کله ئې مسکا دانه وانه شی
ژوندے ئې په مسکا شم او مسکا تل د ژوندو ده

سخت وخت کښې مې اولس کولے شی توقی تقالې
ملګرو دا یوه نخښه صفا تل د ژوندو ده

د ژوند نه نا امېده په ژوندون شی لکه مړے
ناتوانه ژوندون کړې ملګرتیا تل د ژوندو ده

زما ځان زما ځيګرۀ چرته لاړې
داسې ما نه نا خبرۀ چرته لاړې

يو نظر چې مې ليدلے هغه وخت وے
چې زما د زړۀ له دره چرته لاړې

نۀ اوځى زما له خيال يوۀ لحظه هم
اے زما نه مروره چرته لاړې

ستا پۀ فکر کښې غرق اوسمه هر وخت زۀ
اے زما د خيال محوره چرته لاړې

په دېدار پسې رښتيا دي ډېر ناتوان شوم
اے ناتوانه سخنورۀ چرته لاړې

ډک به له مینې ژوندون څنګه راځي
ورونو په مونږ به سکون څنګه راځي

یو بې روزګاره زلمي داسې وئیل
چې به په مونږ سباؤن څنګه راځي

چې لوی ورکوي د ے غمژن د وطن
د دې حالت به سمون څنګه راځي

یو چې ولاړ مونږ د جمود دوران کښې
هسې په مونږ کښې به یون څنګه راځي

یو بې ګناه قیدی په قید کښې وئیل
د دې نظام به بدلون څنګه راځي

نن ئې زمونږ باره کښې داسې وئیل
د دوئ به مینځ کښې بېلتون څنګه راځي

ناتوان چې ځنې وخت پاګل غوندې شم
چې مې په تن کښې جنون څنګه راځي



Pukhto.Net
پښتو

د زړۀ دنیا کښې مې خالقه ورځې شپې درنې دی
سپرلے به راشی خو په ما هسې مودې درنې دی

تنکی ځوانان مې د قام هسې ولایت ته نۀ ځی
دلته بې وسه وی او هلته کښې پیسې درنې دی

څومره پردۀ کښې چې مې پېغلې دی مستور د دې قام
دومره همه دنیا کښې پېغلې پښتنې درنې دی

چې مې وطن کښې وروڼو امن قرار ے نۀ نیسی
شپه مې مازغو کښې ښکاری داسې مې اوګی درنې دی

د شور او شر دې هنګامو په دنیا کړے اثر
خلق شو ستړے دا چې هر وخت کښې ربړې درنې دی

چې د دنیا امن ته جوړه دۀ درنه خطره
خطرې ناتوانه بیا په سیمه مو درنې دی

# ښه اخلاق

په دنیا کښې لوئې دولت دے ښه اخلاق
هر انسان له لوئې عزت دے ښه اخلاق

دښمنانو په صادق، امین کړو یاد
په جهان کښې ښۀ خصلت دے ښۀ اخلاق

کۀ معیار دَے د همه انسانیت
سرپټوب او شرافت دے ښۀ اخلاق

چې هر ځائې کښې پرې انسان ښکاری ښائسته
د انسان زیب و زینت دے ښۀ اخلاق

دې باره کښې کۀ تپوس کړې د ناتوان
کۀ عظمت دے خو عظمت دے ښۀ اخلاق

Pukhto.Net
پښتو

# شیطان

اختــه دې د بنــده پــه بنــدګۍ کړمــه شــیطانه
محــروم دې د جنــت لــهٔ زنــدګۍ کړمــه شــیطانه

زمــا چــې د ســکون او خوشــحالۍ ابــدي کــور وو
بهــر دې تــرې پــه مکــر و فریبــۍ کړمــه شــیطانه

دنیا پۀ هر قدم دې راته ډکه له سور اور کړه
ککړ دې زۀ په خپله دښمنۍ کړمه شېطانه

د شر او د فساد دې راته هره خوا جال خور کړو
پلیت دې زۀ په خپله پلیتۍ کړمه شېطانه

هر بد عمل دې ما ته په لمسون باندې ښائسته کړو
کچکول دې په دنیا د خود غرضۍ کړمه شېطانه

رښتیا چې دې از مېښت کښې اچولے دم په دم یم
لاهو دې په سېلاب د خود سرۍ کړمه شېطانه

ناتوان چې استغفار یو ځلې اووایم پۀ صدق
زړۀ تق به دې پۀ شان د پوکنۍ کړمه شېطانه

زما د ژوند د ښائستونو ښکلاګانو موري
مرام به مومه زۀ ستا په دعاګانو موري

چې تول شپه به دې په غېږ کښې ګرځولمه زۀ
خوب به دې ورک وو تل زما په ژړاګانو موري

لۀ سختې ورځې دې الله مبارک تن اوساته
چې زما سختوئې وهلې زما ګرانو موري

تۀ به لۀ ډېرې خوشحالۍ جامو کښې نه ځائېدې
چې به دې اولیدمه زۀ په خنداګانو موري

ستا په دعا نن په دنیا کښې هم زۀ غوړ ګرځمه
ستا په دعا به یمه سر په هواګانو موري

ستا په هستۍ کښې پټ د دین دنیا خواږۀ پراته دی
ئې مې سبب د دین دنیا د رڼاګانو موري

ناتوان ساتمه د مور خیال چې په دې خپل ژوندون کښې
پۀ هره سخته کښې به سر شم په اسانو موري



Pukhto.Net

زما داجی تل دې اباد غواړمه
له هره غمه دې ازاد غواړمه

کله چې هم لاس په دعا شم خدائے ته
هره دعا کښې دې زۀ یاد غواړمه

ستا یو تکلیف ته ټینګیدے نه شمه
په دین دنیا دې زنده باد غواړمه

چې بربادی ستا د هستۍ غواړی څوک
هغه هر دم خپله برباد غواړمه

د ښه صحت او د ډیر عمر سوال دې
د خدائے په در کښې پۀ فریاد غواړمه

ناتوان دې هره ګهړۍ هره لحظه
د روغ بدن سره تل شاد غواړمه

Pukhto.Net
پښتو

# د ماشوم فطرت

زما ارمان د زندګۍ ورانوي
د بچو ژوند مې غریبۍ ورانوي

هم کړي جنګونه او هم لوبې یو ځائے
سم د غرور د کور بلې ورانوي

په ژړا ځکه ئې خبره منم
د ګلستان مې سم کلۍ ورانوي

ژوند په خندا او خوشحالۍ تېروي
دوئ د کینې بغض ماڼۍ ورانوي

خوراک د وخت سره کوي ماشومان
د ارتکاز اوږدې لړۍ ورانوي

لکه چې دوئ ته فاني ښکاري جهان
ناتوانه داسې کوټګۍ ورانوي

# استاد

دا چې مونږ له رونړ سبا غواړي استاد دے
چې کامران مو خامخا غواړي استاد دے

خصمانه چې د هر ګل د خپل چمن کړي
هر يو ګل چې په خندا غواړي استاد دے

د خپل قام د ترقۍ کوي فکرونه
قام چې پورته په دنيا غواړي استاد دے

چې سيال غواړي خپل وطن په کل جهان کښې
ملک له داسې تمنا غواړي استاد دے

هم همت کوي شپه ورځ د دوئ د پاره
هم چې دوئ له ره دعا غواړي استاد دے

اے ناتوانه دے شفيق لکه د پلار وي
تل شاګرد چې په مسکا غواړي استاد دے

د وخت خزانه ستا په ما باندې قلنګ خو نهٔ دے
زړهٔ مې نازک دے سخت د کانړی او د سنګ خو نهٔ دے

دې پت ښیګړې ورورولۍ علم ته هم پام اوکړئ
پښتنو ورونو مې په کار بې ځایه ننګ خو نهٔ دے

راځئ چې اوګورو تاریخ د مشرانو خپلو
تاریخ ځلند مو دے ژوند ے دے زمونږ زنګ خو نهٔ دے

چې بې بلنې مې په زړهٔ رنځ مېلمه شوے دے نن
احساسه اوکړه ترې تپوس حېران په ډنګ خو نهٔ دے

ناتوانه هر شعر ګل رنګې چې دې اوستائیلو
خیال د غزل دې د جانان په رنګ کښې رنګ خو نهٔ دے

سر شه په مزل د خپل مرام منزل ته اورسه
ځوانه په همت د خپل مقام منزل ته اورسه

تا ته ستا د ځوان همت مېوه به در رسيږي خو
ستا چې وي قابل د هغې بام منزل ته اورسه

قدر او عزت چې دې هم خپل او هم پردے اوکړي
داسې د عزت او احترام منزل ته اورسه

اوکړه د امن د وروري او د الفت ګلان
داسې د خلوص او ننګ و نام منزل ته اورسه

ستا چې پرې دنيا او اخرت دواړهٔ روښانه شي
داسې انسان جوړ شه د دوام منزل ته اورسه

ځوانه په همت دې د اسمان په کنارو غواړم
تهٔ په دې جذبو د نېک انجام منزل ته اورسه

زېرے شه پېغام جوړ شه ناتوانه دې اولس لره
دوئ لره په شعر د پېغام منزل ته اورسه

# مزدور

ستا د فولاد غوندې بدن غوارم سنګین مزدوره
ستا په خدماتو دې مدام وی افرین مزدوره

ستا په حرکت شی برکت دخان غریب روزی کښې
سحر ماښام چې ئې لګیا هم ماسپښین مزدوره

دا چې ښکلا دۀ تازګی دۀ په چمن د ژوندون
ستا په سبب ځومره چمن ښکاری رنګین مزدوره

هر وخت خولو کښې معطر ئې خو همت لرې ځوان
د همه قام مې ئې د غاړې لونګین مزدوره

یو ورځ به ستا په کورنۍ شی سباؤن د سکون
تا ته سلام چرته هم نۀ شې ته غمګین مزدوره

وائی ناتوان چې شا مدام داسې محنت کوې تۀ
خدمت راوړی به دې رنګ وایم په یقین مزدوره

## ماشوم ته (مزاحيه)

ستا د دې سکول نه پتېدل ښۀ نۀ دی
په سرۀ غرمه دې پاڅېدل ښه نۀ دی

د خپل استاد وينا په غور اوره
ورته ناجانه کېښناستل ښه نۀ دی

له خپل ملګری چرې غلا او نۀ کړې
څه ئې بستې نه پټول ښه نۀ دی

ټوله مياشت نۀ کوې تپوس د بچی
چې شی خارج بيا دې راتلل ښه نۀ دی



Pukhto.Net

چرې ملګرې سره جنګ او نۀ کړې
بل دې جنګونو کښې چیچل ښه نۀ دی

ستا به سورې کشتۍ شان لاړې ځاځی
ګورے نسوار درله کول ښه نۀ دی

ښه تربیت او ښه اخلاق واخله
چرې مو یو بل ته کنځل ښه نۀ دی

ځان له چاکوانو او جرمونو ساته
سکول د ے تانه ترې جوړول ښه نۀ دی

سکول ته را نۀ شې وائې نیا مې مړۀ وه
د نیا نیکه بهانې کول ښه نۀ دی

په یونیفارم کښې دې خپل سکول ته راځه
برګې جامې دې اغوستل ښه نۀ دی

وائې ناتوان چتې کښې ځۍ قطار کښې
په لار مو یو بل ټېلو هل ښه نۀ دی

# وطن

راته ښائسته مې د لندن وطن ئې
تۀ زما ځان زما بدن وطن ئې

زۀ دې نغمې زۀ دې سندرې وايم
تۀ مې بوستان ته مې چمن وطن ئې

ما ته کشمير ئې زما ځان وطنه
په وطنونو کښې وطن وطن ئې

سر مې له تا نه شه قربان وطنه
زما مسکن زما مدفن وطن ئې

ناتوان دې هسک غواړم بيرغ په جهان
زما ارمان زما گلشن وطن ئې

Pukhto.Net
پښتو

# بلوري

مونږ په ماشومتوب کښې هر سحر به بلوري کول
مونږ په خوشحالۍ تر مازيګر به بلوري کول

څومره به هر وخت مونږه په مينه مينه لوبې کړې
خوند کښې مونږ دنيا نه نا خبر به بلوري کول

مونږ به په شريکه د ټول کلي ماشومان راغلو
شوق کښې د کوزچم هم د بر به بلوري کول

څه موږه په ګټه پسې بېلاد او په جهان پرواه
مونږه په خندا لکه اختر به بلوري کول

چا سنګ مرمر چا په چرو چا بلورو باندې
پيل کښې مونږ مشغول په خندا سر به بلوري کول

جيب کښې د ناتوان هغه شرنګا چې اوس هم ياده شي
داسې ښکارېده چې هر منظر به بلوري کول

# بجلي

بلونه ورځ ترورځ راته زياتيږي بجلي نشته
ګرمۍ کښې مې دقام بچې ورتيږي بجلي نشته

په نوم باندې بجلي دۀ نور په نشت باندې حساب دۀ
نرخونه ئې روان دي سېوا کيږي بجلي نشته

په زړۀ مې ساه ډوبي ځکه په شپه کښې راخوره شي
بس ماشي مې په غوږو کښې بنګيږي بجلي نشته

د کوراوچم ګاؤنډ د ماشومانو ژړا اورم
نازک زړۀ مې په دوئ باندې خوږيږي بجلي نشته

هر کور کښې مشران شپې روڼوي بجلۍ راتلو
خوبونه ئې د سترګو نه تښتيږي بجلي نشته

ناتوانه د بجلۍ دا مسئله چې ټول عمري شوه
احساس زما په تن کښې خفه کيږي بجلي نشته

Pukhto.Net
پښتو

# سوات

راشه کۀ مې ګورې مازيګر د سوات
ګلې چرته راشه په چکر د سوات

سوات زما مرکز د سیلانیانو دے
ښکاری د سیل ګرو لوئے اختر د سوات

هر خوا ته چینې او چنارونه دی
شنه شنه چې ښکاریږی مې نختر د سوات

دې ته ګلستان که پرستان اوویم
ګل غوندې ښائسته دے هر بشر د سوات

څه سحر انګیز اب و هوا لری
زمکه مې ښبرازه ده سره زر د سوات

هر خواته د سوات مې رنګینۍ ښکاری
لګی زړۀ راښکونکے هر منظر د سوات

اے ناتوانه چڼ وی د مرغو پۀ کښې
داسې مې سپرلی کښې وی سحر د سوات

Pukhto.Net

زما چې نن د خاورو په بلې باران وریږي
بهیږي تر نم کښې ناوګې باران وریږي

سور هار کښې چې کاږه دې د باران ارمان جانانه
اوس راشه ننداره اوکړه سپوږمۍ باران وریږي

جونګړې راڅڅیږي د خوارانو غریبانو
د چا د مزو دلته په ماڼۍ باران وریږي

وریږي مې په سوات کښې هم په ټوله پښتونخوا کښې
زمونږ په علیګرامه کالونې باران وریږي

باران کښې راته بیا خپل مسافر جانان رایاد شي
چې کله په زور شور کښې په تېزۍ باران وریږي

تېرېږي د کوچیانو قافله او شرق باران دے
لمده شوله د ګل غونډې کوچۍ باران وریږي

ناتوان د هر یو څاڅکي له باران اخلم خوندونه
چې کله په ورو ورو میانه روۍ باران وریږي

# پښتو ژبه

د لعلونو خزانه دهٔ زما ژبه
د وختونو ائينه دهٔ زما ژبه

چې رحمان خوشحال حمزه ئې ځلولې
ښه سپېځلې پېمانه دهٔ زما ژبه

چې احساس مې د جذبې نغمه نغمه کړی
مستهٔ مسته ترانه دهٔ زما ژبه

د ادب ګلونه ډېر ئې تېر کولی
دردانه دهٔ دردانه ده زما ژبه

زهٔ په وړاندې ئې ناتوان څکه ښکارېږم
پښتنه دهٔ پښتنه دهٔ زما ژبه

زۀ دې ســـوکاله غـــواړم زۀ دې غـــواړم شـــاد وطنـــه
غـــړ دې لـــرم پـــه هـــره ســـاه د ژونـــده بـــاد وطنـــه

چـې پـه خیـرن نظـر دې خـاورې تـه نظـر کـوي څـوک
داسـې دښـمن دې پـه خپـل تـن غـواړم بربـاد وطنـه

تـۀ زمـا کـور زمـا جـونګړه ئـې زمـا مسـکن ئـې
فخـــر کؤومـــه پـــه تـــا ســـتا یمـــه اولاد وطنـــه

ســـتا ســـره مینـــه مـــې وطنـــه د ایمـــان نخښـــه دۀ
مـا تـه کشـمیر ئـې هر تکلیف کښـې مې ئې یاد وطنه

ډیـــر ارمانونـــه مـــې تړلـــې ســـتا وجـــود ســـرۀ دي
پـــه تـــا ژونـــدے یمـــه پـــه تـــا یمـــه ابـــاد وطنـــه

ناتوان ارمـان لـرم چـې سیال شـی پـه همـه نړۍ کښـې
تـه پـه نقشـه کښـې د دنیـا دې شـې تـل ښـاد وطنـه

# خـــــودداری

زۀ که یم معذوره خو په ژوند کښې ډېر خوددار یمه
زۀ په هر حالت باندې د خدائے شکر گزار یمه

خدائے معذور پیدا کړم خو په ژوند کښې اهلیت لرم
زۀ په هر مېدان لۀ روغو ورونړو هم سبقت لرم
خپل احساس سکونډی مې تل په تن حساسیت لرم

ښه به په چا بار شم له فطرته چې بېدار یمه
زۀ په هر حالت باندې د خدائے شکر گزار یمه

څوک به راته ګوډ وائی ملګرو څوک به شل وائی
خبر دے داد کرکې دا نامې به راته تل وائی
دا برداشت کولے شم شل ځله او که سل وائی

تل چې په مزل کښې زۀ د خپل منزل په لار يمه
زۀ په هر حالت باندې دخدائے شکر ګزار يمه

ورونړو په ژوندون کښې زما هم ځنې خوبونه دی
زۀ هم يو انسان يم زما هم څه ارمانونه دی

دلته که څوک روغ دے که ناروغ د خدائے کارونه دی
دغه د خدائے وېش دے زۀ په دی قرار قرار يمه
زۀ په هر حالت باندې د خدائے شکر ګزار يمه

خپله کړم همت ژوند کښې تل دا ده اراده زما
نه نيسمه لاس چا ته هم دغه دۀ وعده زما
خپله دا مثال يم اوکړئ څوک مشاهده زما

لوړه حوصله کښې زۀ ناتوان ښه په معيار يمه
زۀ په هر حالت باندې د خدائے شکر ګزار يمه

# یخنی

جرسیانې خلق اغوندی کوټونه په یخنۍ کښې
خوارۀ شی ډېر ملګرو څادرونه په یخنۍ کښې

هټکۍ چې شی شروع ګزارۀ نۀ کیږی په دی هم
هر تن بیا بلوی ځان ته اورونه په یخنۍ کښې

چې کله دې موسم کښې ګذاره شی ډېره ګرانه
بندیږی بیا سکولونه کالجونه په یخنۍ کښې

منګولې وی جرابې کۀ چهترۍ وی په کار راشی
شروع چې کله هم شی بارانونه په یخنۍ کښې

چې څوک وی د یخنۍ د دې سامان نه نن محرومه
خالقه چې به څنګ ئی وی حالونه په یخنۍ کښې

که واؤرې په پښو کورونو نۀ کوی اثر خو
د خاورو استوګن توګی کورونه په یخنۍ کښې

ګل رنګې چې ناتوان ته هغه ورځې شی رایادې
په زړۀ کښې ئې مزار جوړ کړی یادونه په یخنۍ کښې



Pukhto.Net پښتو

# .اتل افغان تهٔ (د کوژدنې سهره)

جوړهٔ په مثل د ریحان او د سنبل جوړه شوه
چې د اتل جوړه شوه کوژدن یارانو

خوړهٔ ئې اوکړه د دېولۍ نه
وو پسې تلې شاه ډهیرۍ نه
مست شو ملګرې د مستۍ نه

د جمعې ورځ وه خوشحالي پرې یو په سل جوړه شوه
چې د اتل جوړه شوه کوژدن یارانو

اوس به ملګرې راغونډیږی
تول به یو بل سرهٔ خندیږی
مشاعره به پرې جوړیږی

ښه مشغولا پهٔ کښې زمونږهٔ د یو بل جوړهٔ شوه
چې د اتل جوړه شوه کوژدن یارانو

اوشوه کوژدن په ستمبر کښې
خلق ترې راغلو مازیګر کښې
شوۀ خوشحالي ځېګر ځېګر کښې

ځکه منزل ته یوۀ لارۀ د مزل جوړۀ شوه
چې د اتل جوړه شوه کوژدن یارانو

دوۀ زرۀ او یوولس کال وو
میاشت کښې اختر چې د شوال وو
نن هر یو تن ځکه خوشحال وو

ردیف مې یو دے قافیه په کښې بدل جوړۀ شوه
چې د اتل جوړه شوه کوژدن یارانو

ناتوانه اولیکه شعرونه
شته د ادب په کښې ګلونه
دوئ ته بیان کړۀ خپل خیالونه

ملګرو بس دے اوس چاربېته مکمل جوړۀ شوه
چې د اتل جوړه شوه کوژدن یارانو

## فـــــــــرد

د روغنتــون د هــر مــريض اواز کښــې ښــکاری پېغــام
د رنــځ نــه وړانــدې دې پــه روغ صــحت ادا کــړۀ شــکر

## فـــــــــرد

د ژوند نه نا امېده په ژوندون شی لکه مړے
ناتوانه ژوندون کړې ملګرتيا تل د ژونـدو ده

Pukhto.Net پښتو

# قطعات

د ځان نه اوباسمه خامیانې بل کښې نۀ لټوم
چې یوه ګوته بل ته نیسم څلور ځان ته راځي

چې همیشه د نورو بدو ته نظر کوومه
په دې خبره نن احساس ځنې ناتوان ته راځي

Pukhto.Net
پښتو

داسې شاعر ته ښه شاعر وایمه
شعر چې د دې وخت او د عصر وائي

هغه شاعر ته شاعر نه وایمه
په پردی شعر چې خپل کسر وائي

ډېر ارمانونه به ددې جهان نه ورړم ځان سره
لری نفاق چې مسلمان پۀ جهان بریه نه شی

د اتفاق مثال ئې داسې نن سبا ښکاريږی
چا وئیل پکی، ته ستا واده دے وې باور مې نۀ شی

چې خپل حدونو کښې انسان اوسيږی
تور به پرې جوړ نۀ شی پېغوره پورې

هغه انسان ته هم ښه نه وايمه
غل زغلوی چې تر خپل کوره پورې

الله پېدا کړله دنیا زمونږ فائدې له
یو ځل به څو تري نه که شا دے که ګدا دے

داسې متل مې مشران کوي اکثر چې
نن دے کۀ سبا دے دا مال د زرغون شاه دے

په دستر خوان چې دې پراته وي خوراکونه بې شمار
چرته بې وسه ګاوندې ته دې خیال ځي او کنه

ازار چې تري انسان شي داسې تنګ نه مې زړۀ تور دے
تباه چې پرې مخلوق شي داسې جنګ نۀ مې زړۀ تور دے

ناتوانه چې ساز شوی دا په نیت د تباهۍ دی
آلې دی د نقصان توپ او تفنګ نه مې زړۀ تور دے

هغه ورځ دې اوساته ناتوانه په خپل یاد کښې
پوک چې اسرافیل وهی شپېلۍ او قیامت سور شی

څوک به درله هېڅ نفع در نۀ کړی هغه وخت کښې
ځان چې په ضرور شی نۀ په زوی شی نه په لور شی

کۀ رښا او تعلیم غواړې خوږه وروره
دا هنر په لیک لوستلو ازده کېږی

تجربه هم په دنیا کښې لوئے هنر دے
ځکه عقل په ټکرو ایزدۀ کېږی

پکار دے نېک عمل د مرګ نه وړاندې هر انسان لـه
کلـه چـې راشـي ځنکـدن بيـا پـه توبـو نـهٔ کيـږي

د هـر زوال نـه د کمـال هنـر پکـار وي وړانـدې
کلـه ځنګـل چـې واخلـي اور بيـا پـه پوکـو نـه کيـږي

سـکونډارے راکـوي باريـک احسـاس
د خيـال دې بـاريکو کړمـه شـاعر

هـر تـن رالـه راکـړے دے احسـاس
دې خپلـو او پـردو کړمـه شـاعر

سر به خپل مات کړې خو غر نۀ ماتېږي
لکه په ګوته چې ور نه ماتېږي

تل په يو والي شي فولاد غوندې قام
بيا خو فولاد دومره زر نۀ ماتېږي

چـې سـپرلے پـه هـر يـو لـور وے
ښـه ګـلان پکښـې سمسـور وے

ويـم چـې خوشـے بيابـان وے
يـو جونګړه زمـا کـور وے

چـې اولـس مـې وے سـوکاله
پـرې د امـن ښـادر خـور وے

چـې جـذبې د ورورلـۍ وے
او مسـرور زمـا هـر ورور وے

اتفـــاق د مســلمان وے
پـه نــړۍ د اســلام زور وے

چـې خپلواکـه مـې چمـن وے
او د مينـې يـو انځـور وے

د امـــت خبرلـــه ناتوانـــه
احساسـونو کښـې دې شـور وے



Pukhto.Net
پښتو

چې په تکلیف کښې زما نن خاوند دوس کوڼ دے
په بې وسۍ خپله زما ارمان بې وس کوڼ دے

بې ګناهي چې مې منظوره نۀ شوه هیڅ چا ته
پوهه په دې شومه چې ما ته هر یو کس کوڼ دے

که په خوله ګونګ یمه خو چغې مې احساس وهي
بې دعا نه یم خو قسمت زما بس بس کوڼ دے

د زړۀ قلمه لکه زور چې دې کم شوے وي
ګنې دا نۀ دۀ چې په غوږو دې اولس کوڼ دے

نن چې بلیږي د ناتوان د سوچ تنور داسې
څوک ئې هم نۀ اوري اواز همه مجلس کوڼ دے

کوم نرۍ کښې ترقۍ ته فکر
بیا خپل وطن کښې بې کارۍ ته فکر

په خپل اولس باندې مې ترس راشي
چې لاړ شي کله مې ګرانۍ ته فکر

د هر یو تن کور کښې تکلیف وینمه
چې کله اوکړمه بجلۍ ته فکر

په مخ د هر تن خوشحالي غواړمه
چې د قام اوکړم بې وسۍ ته فکر

تکلیف د خوار برداشت کولے نه شم
چې د غریب اوکړم دیارۍ ته فکر

د خپل اولس د سوکالۍ د پاره
کول به غواړي قربانۍ ته فکر

چې د قام غم مې پار کړي کله قلم
د ناتوان لاړ شي شاعرۍ ته فکر



Pukhto.Net

چې نن ساز کړو راله دومره وران اینځور وخت
دا خو راکړو خپله ژبه کښې پېغور وخت

څه به ښه وۀ چې مې سوچ کولې نه شوے
نن سبزی چې د حالاتو مې په اور وخت

د جهان خزان تروړلے مې سپرلے دے
په احساس کښې پېدا کړے زما شور وخت

خدایه هغه وخت به څه د خوشحالو وی
چې سپرلے ګل کړی زما زړۀ په کور وخت

شهنشاه دے چې ګدا ځنې بادشاه کړی
ځنې وخت تخت د بادشاه هم کړی نسکور وخت

اے ناتوانه چې هر خوا سپرلی سمسور شی
خدایه داسې درنه غوارم په هر لور وخت

Pukhto.Net

هېروؤ مه ، يادوؤ يادونه
تازۀ كوه مۀ ، وركوه غمونه

د انسان ښه ګوره بدې مۀ ګوره
څرګندوؤ مه ، پټوه عيبونه

پيدا كوي ښكلا ګلونه هر ځائې
بيا شوكوه مه ، بويوه ګلونه

كه دې اوباسې څوك له خولې خبرې
څرګندوؤ مه ، پټوه رازونه

وائې ناتوان ته چې غزل مۀ ليكه
بس كوه ، مه تخليق كوه شعرونه

Pukhto.Net
پښتو

راتـــه سـيال ښـکاری رنګونـــه د خپـــل کلـــی
چـــې زۀ ویـــنم شـــنۀ شـــنۀ غرونـــه د خپـــل کلـــی

پـــه نـــرۍ کښـــې د ګنـــدهارا پـــه تهـــذیب کښـــې
زۀ لرمـــــه تاریخونـــــه د خپـــــل کلـــــی

د غره څوکو کښې د شنو غرونو په مېنځ کښې
په غورځنګ وینم نهرونه د خپل کلي

په بدل کښې د پېرس کۀ ئې څوک غواړي
ور به نۀ کړم ښائستونه د خپل کلي

په سیندونو چنارونو ډېر ښائسته دے
سازؤم چې منظرونه د خپل کلي

علیګرامه ربه تل ګل او ګلزار کړې
سمسور غواړمه ګلونه د خپل کلي

د جنت جنت خوب غواړمه تعبیر خپل
چې ناتوان لیکم شعرونه د خپل کلي

وریځ خمار خمار څه د باران زیرے راوړی
موسم قرار قرار څه د جانان زیرے راوړی

د خیال سپرلے مې ګل په جل وهلی زمکه شی
بلبل چغار چغار چې د امکان زیرے راوړی

وږمې چې د سپرلی څه بې موسمه محسوسه
امېد بهار بهار مې د بوستان زیرے راوړی

نن خیال کښې مې جانان اوړی راوړی مسافر
چې دا ګلزار ګلزار به کوم انسان زیرے راوړی

همت هر یو انسان له ده کنجی د کامیابۍ
په شعر کښې ځار ځار داسې ناتوان زیرے راوړی

*******************************

******************

ژوندون

پروین احمد ناتوان



د پښتو ژبې او ادب د خدمت او ډول سينګار لپاره زمانې د کار او دستار سړي پېدا کړي دي. دغې د کار سړو د جانان او د دوران ډېرې تودې سړې په خان وړي دي په ډېرو ازغنو لارو ئې تګ کړے دے دې تودو شګو او زمکې ورله تلې سيزلي دي او تکو سرو غرمو وهلي او تور کړي دي ــــــ خو دوئ دا ټولې ناکردې په روڼ تندي زغملي او د پښتو ادب د ناوې ډول سينګار ئې خدمت څه چې عبادت ګڼلے دے.

او هم د دغه منډو او زيار په بدل کښې د پښتو مئينانو دوئ د دستار سړي ګڼلي دي. محترم پروين احمد ناتوان صېب هم د دې دستار د سړو نه يو سړے دے. د خپلې خاورې، ژبې او وطن والو لپاره ئې خپل احساسات نظم کړي دي. بايد چې د ناتوان صېب دې توان ته په درنه سترګه وکتے شي.

اتل افغان شاه ډېرى، سوات

نېټه: ۱۵ ستمبر ۲۰۱۳ع